د افغانستان عاجل، بې طرفه موقت حکومت

۱ دوې طرحې

۲ د افغانستان د بشر د حقوقو اعلامیه

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

د رسالې نوم : دوې طرحې
طراح : حبیب الله رفیع
کمپوز : فرشته عمري
خپروونکی : دامان کتاب خپرولو مؤسسه.
دخپریدو کال: ۱۹۹۶/۱۳۷۵

ketabton.com - The Digital Library



دافغانستان له پاره د بې طرفه موقت حکومت طرح

ketabton.com - The Digital Library

یادښت

پر دې طرح باندې ما له هغه وخت نه فکر پیل کړی چې څلور کاله وړاندې په افغانستان کښې د کمونستانو تر سقوط وروسته د اقتدار پر سر لیونی،او خونړی جګړې پیل شوې.

ددې طرحې په ارتباط ما دا درې کاله وخت په وخت لیکنې کړې چې په بیلا بیلو خپرونو کښې راغلې دي خو ددې طرح بشپړ شوی او وروستی شکل دا دی په دې رساله کښې وړاندې کیږي او زهٔ ددې رسالې له چاپیدو سره په خپلو ټولو هغو هیوادوالو چې د :

افغانستان ملي خپلواکي

د افغانستان ملي وحدت

او د افغانستان ملي ګټې

غواړي غږ کوم چې دا طرح په غورولولي، که نیمګړتیاوې پکښې ویني هغه ما ته ولیکي او که نه نو ملاتړ یې وکړي او د یوه ګډ غږ په توګه یې دنړیوالو او هیوادوالو غوږونو ته ورسوي چې د تطبیق او پلي کولو له پاره یې ګډ کار او زیار تر سره کړو.

په درنښت

حبیب الله رفیع

پست بکس، نمبر(٦٣٠)، جي. پي. او

پیښور، پاکستان

ketabton.com - The Digital Library

سريزه

د ۱۳۵۷ کال د غويي د اوومې نيټې د کودتا په کيدلو سره د افغانستان سياسي نظم او اداره له قانوني محور نه ووتل اوداسې ګډوډي شروع شوه چې خونړې پېښې او بې ساري جنايتونه ورسره ملۀ وو، هيواد ته دلويو قدرتونو او د ګاونډيو لويو او وړو هيوادونو لاسونه را اوږدۀ شول او هر يوۀ هڅه وکړه چې پۀ افغانستان کښې د خان له پاره کسان ولري.

پۀ ۱۳۵۸ کال کښې پر افغانستان د روسانو له وسله وال تيري سره حالات نور هم خراب شول، د کمونستانو او مجاهدينو تر منځ جګړې تودې شوې چې د ملت مطلق اکثريت د مجاهدينو تر څنګ ولاړ ؤ او د همدې ملي قيام اوملي مقاومت له امله کمونستان ورځ پۀ ورځ له ماتو او شکستونو سره مخامخ کيدل او د قدرت ساحه يې تنګيدله څو چې روسان وتښتيدل او کمونستانو د خپلې ماتې پۀ منلو سره د ملګرو ملتو د سولې طرحې ته غاړه کښيښوده.

له بلې خوا د مجاهدينو بيلا بيلو ډلو چې له بيلا بيلو هيوادونو سره ايډيالوژيکي او د ګډو ګټو پۀ اساس اړيکې پيدا کړې وې او د هغوی د ګټو د ساتندويې رژمنه يې ورسره کړې وه د هغوی پۀ تحريک د ملګرو ملتو د سولې پلان رد کړ او هرې ډلې قدرت ته د رسيدو له پاره د کمونستانو له ماتې خوړلو خو وسله والو ډلو سره د نژادي او ژبنې اړيکو پۀ اساس د افغانستان پۀ واحد ملت کښې يوه بله خطرناکه لوبه رامنځ ته کړه او د مجاهدينو او کمونستانو دوې مقابلې ډلې تجزيه شوې او يو نوی تشکيل يې ومونډ پۀ دې ډول چې د يوې ژبې او نژاد مجاهدين د همهغې ژبې او

ketabton.com - The Digital Library

نژاد له کمونستانو سره ملګري شول او د بلې ژبې او نژاد مجاهدین له همژبو او هم نژاده کمونستانو سره ودریدل او یو ځل بیا د ۱۳۷۱ کال د ثور په لومړۍ اوونۍ کښې د اقتدار ناولي جنګونه په افغانستان خصوصاً کابل ښار کښې پیل شول او د افغانستان ملت د نړۍ لویو او ګاونډیو هیوادونو د خپلو ګومارل شویو کسانو او ډلو په وسیله له نویو مصیبتونو او بدبختیو سره مخامخ کړ.

د ژبې او نژاد، اکثریت او اقلیت په دعوو جوړې شوې موضعګیرۍ له دې امله چې په شخصي اغراضو ولاړې وې، ډیر ژر وشوړیدې او د هیواد په جګړه کښې ښکیلو، وسله والو او د قدرت مدعي ډلو نوې-نوې وفاداری رامنځ ته کړې، هغه ډله چې پرون له دې بلې ډلې سره دښمنه او له هاغه بلې سره دوسته وه، نن له هغې سره دوسته او له دې سره دښمنه شوه خو د ملت بدبختي ورځ په ورځ زیاته شوه ځکه د جګړه مارو ډلو موضعګیرۍ او ملګرۍ بدلې شوې خو د جګړې وضع نه یوازې دا چې بدله نه شوه بلکه لا وحشیانه شوه او دا دې په دې ځلور کلنه موده کښې چې د واک د ساتلو او واک د نیولو مسابقه روانه ده، د افغانستان تر ځلویښت زرو (٤٠٠٠٠) تنو زیات کسان پکښې ووژل شول او زمور ټوله مادي او معنوي هستي پکښې برباد شوه.

په دې توګه ټول داخلي ائتلافونه او وسله والې ډلبندۍ چې ملي ملاتړ ورسره نه ؤ ناکامې شوې او افغانستان عملاً د ملوك الطوایفۍ زرګونو کلونو وړاندې دورې ته ننووت او هم کومې هڅې چې لویو قوتونو او ګاونډیو هیوادونو وکړې بې نتیجې پاتې شوې، امریکې د افغانستان په باب د نړیوال کنفرانس په نامه د خپلې خوښې ډلې وروغوښتلی او دافغانستان په ډلو کښې یې د سکنې او نا سکه کرښه راکښله او ایران د امریکې په مقابل کښې همداسې اقدام وکړ او هغوی بیا د خپلې خوښې کسان وروغوښتل چې دې کنفرانسونو هم نه یوازې دا چې کومه ګټه ونه کړه بلکه تشنج یې لا زیات کړ او په افغانستان کښې یې د وسله والو ډلو د نفاق اور ته نور هم لمن ووهله.

نو اوس د افغانستان په جګړه کښې ښکیلو ځواکونو چې د اقتدار د ناولو جګړو په وسیله یې د خپلو ټولو ادعا ګانو تقدس له لاسه وتلی، باید دا درک کړې وي چې د افغانستان پر مسلمان ملت د زور حکومت څوك نه شي کولای، د افغانستان په مؤمن او یو موټي ملت کښې نژادي، ژبنې، سیمه ییز او مذهبی بیلتونونه را پیدا کول ځای نه لري او د راپیدا کوونکو تر مختورۍ پرته یې بله نتیجه نه راوزي.

ketabton.com - The Digital Library

دوی باید دخدای پۀ خاطر، د قرآن پۀ خاطر او د با ایمانه ملت د قربانیو او قهرمانیو پۀ خاطر له وسله والو سیالیو نه تیر شي او د في سبیل-الله جهاد د دعوې د تحقق له پاره د قدرت جنګونه پریږدي او خپل قهرمان او اتل ملت ته د تنفس او د خپل برخلیك د ټاکلو موقع ورکړي او پریږدي چې هغوی د افغانستان اداره د قانوني بهیر غیږې ته واچوي او د وران شوي افغانستان د بیا ودانولو کار پیل شي.

له بلې خوا د افغانستان ګاونډیان او د افغانستان پۀ پیښو کښې ککړ ټول هیوادونه باید پۀ افغانستان کښې د خپلو لاسپو ځو حکومتونو د جوړولو فکر له سره وباسي او ددې ټکو پۀ نظر کښې نیولو سره چې د افغانستان مسلمان او پۀ آزادی مین ملت پۀ خپل هیواد کښې د هیڅا ګودا کی حکومت نۀ مني، پۀ ګډه د یوۀ داسې حکومت پۀ رامنځ ته کولو کښې مرسته وکړي چې د افغانستان ملي وحدت تأمین کړي، د افغانستان ملي خپلواکي وساتي او د افغانستان ملي ګټې پۀ نظر کښې ولري. داسې حکومت به د آرامی پۀ راوستلو او د یوۀ قانوني بنیاد پۀ درلودلو سره له ټولو ګاونډیانو سره د وروری اړیکې ټینګوي او د دوه اړخیزو ګټو پۀ نظر کښې نیولو سره به له دوی سره راکړې ورکړې او راشې درشې کوي.

ددې ټکو پۀ نظر کښې نیولو سره د افغانستان د شخړې د بیړنې حل او د هیواد د قانوني بهیر غیږې ته د لویدو له پاره دا لاندې پر له پسې پراوونه باید ګام پۀ ګام عملي شي:

ketabton.com - The Digital Library

نړیوال کنفرانس
او
د اغیزمنو کسانو اضطراري جرګه

مورږ وینو چې د افغانستان ستونځه دوه اړخونه لري چې یو خارجي او بل داخلي اړخ دی چې داخلي اړخ هم له خارجي اړخ سره تړلی او دواړه یو ځلې باید حل شي نو ددې دوه اړخیزو ستونځو د حل له پاره باید په٘ یوه وخت کښې خو سره جلا یونړیوال٘ کنفرانس او یوه لویه جرګه دایر کړای شي.

د ملګرو ملتونو تر اداري لاندې جوړ شوې٘ نړیوال٘ کنفرانس کښې به د نړۍ لوی هیوادونه او د افغانستان په٘ پینبو کښې د خیل هیوادونه دې نتیجې رسیږي چې د افغانستان روانه وضع ددوی یوه په٘ ګټه هم نه٘ ده او په٘ همدې بنا به په٘ ورسره تړلو ډلو باندې وسلې او پیسې بندوي او یوه٘ حل ته به٘ یې هڅوي.

ketabton.com - The Digital Library

له بلې خوا به وسله وال ځواکونه د جګړې په بندولو سره ملت ته موقع ورکوي چې د هیواد په یوه سوله ناکه سیمه کښې د اغیزمنو کسانو یوه اضطراری جرګه راوبولي. دجرګې په ترکیب کښې به د وسله والو تنظیمونو مشران، د هیواد لوی او ځواکمن قوماندانان، د ولایاتو او اولسوالیو اغیزمن سپین ږیري، مخور، عالمان او روشنفکران شامل وي چې شمیره به یې له ۵۰۰ تر ۶۰۰ تنو پورې کیږي. ددې کسانو په خوښولو کښې به تر هر څه وړاندې ددوی اغیزمنتوب په نظر کښې وي او دې ټکي ته به کتل کیږي چې له نظامي، اولسي او فکري نظره ددې پریکړه څومره درنښت درلودلای شي.

د نړیوال کنفرانس او د لویې جرګې د پریکړو د هم آهنګۍ له پاره به د لویې جرګې یو هیأت په نړیوال کنفرانس کښې د ناظر په توګه او د نړیوال کنفرانس یو هیأت به په لویه جرګه کښې د ناظر په توګه برخه اخلي او ددې نړیوال کنفرانس او دې لویې جرګې د پریکړو په نتیجه کښې به د افغانستان له پاره ملي پوځ جوړیږي او په هیواد کښې به امنیت ټینګوي.

د سولې په دې پروسه کښې به هغه هیوادونه چې د افغانستان په جګړه کښې یې سخاوتمندانه پیسې ښندلې اخلاصمندانه برخه اخلي او له دې سره به په هیواد کښې یو مؤقت حکومت رامنځ ته کیږي او د افغانستان د سیاسي اداري د قانوني کولو په لور به یو پر بل پسې نور ګامونه اوچتوي او په دې توګه به افغانستان له دې ناوړه حالت نه راوزي.

ketabton.com - The Digital Library

دوهم ګام

له مسلکي کسانو نه جوړ مؤقت حکومت

د اضطراري جرګې په خوښه جوړ شوی موقت حکومت به یو بې طرفه حکومت وي چې له هغو مجربو، روزل شویو اومسلکي افغانانو څخه په جوړ وي چې همدا اوس د نړۍ په بلا بیلو هیوادونو کښې خوارۀ دي او یا په هیواد کښې د ننه د کس مپرسۍ ژوند تیروي. دا هغه کسان دی چې په ډیره تنده او تلوسه د خپل هیواد د حالاتو د ښه کیدلو او د افغانستان د ملت له پاره د آزاد تنفس ایستلو د فرصت انتظار باسي او هیله لري چې د څه کم دوه ملیونه شهیدانو تر قربانۍ وروسته ګران هیواد ته د خدمت کولو او د وران هیواد د ابادولو په لاره کښې کار او قربانۍ ته راوړاندې شي او د بیا رغونې په جهاد کښې برخه واخلي. دوی به ژمنه کوي چې د موقتي دورې تر ختمیدو وروسته به نه په ډله ایزاونۀ په انفرادي توګه د قدرت له پاره کاندیدوي او لکه څنګه چې مجاهدینو د آزادۍ له پاره د سر قربانی ورکړي دوی به د آرامۍ له پاره سیاسي قربانۍ ورکوي.

د داسې حکومت په منځ ته راتلو به له یوې خوا د تنظیمونو تر منځ د اقتدار لیونۍ جګړه پای ته ورسیږي او له بلې خوا به تنظیمونه له خپل مسلمان ملت سره خپله هغه ژمنه چې پنځلس کاله یې د «فی سبیل الله جهاد» په الفاظو کوله ، ترسره کړي.

د بې طرفه حکومت په راتلو سره به چې د ملت، تنظیمونو او نړیوالو ملاتړ به لري، په هیواد کښې د قانوني بهیر د په لار اچولو له پاره زمینه برابره شي او بیا به په دې لاره کښې د څو نورو پر له پسې او منظمو ګامونو په اخیستلو سره داسې وخت هم راشي چې جهادي تنظیمونه به د وسلې پر ځای له منطق سره اولس ته ورځي او د قانوني انتخاباتو له لارې به مشروع واک ته رسیږي.

په دې توګه د بې طرفه حکومت جوړیدل په هیواد کښې د قانوني اداري د جوړیدو په لور یو مهم ګام دی چې نور منظم ګامونه به یې د تکامل په لور بیایي.

ketabton.com - The Digital Library

دريم ګام

ډاډمن امنيت

حقيقت دا دی چې پۀ هيواد کښې يو مرکزي او ۲۹ ولايتي حکومتونه نۀ دي، بلکه پۀ هيواد کښې د وسله والو ګروپونو پۀ شمير حکومتونه دي چې هر يو وسله وال ګروپ هر څنګه يې چې زړۀ غواړي پۀ همغه ډول له خلکو سره رويه کوي او د خپلو وسله والو ادارو د چلولو له پاره د خلکو د مالونو پۀ لوټلو، جريمه کولو، محصول اخيستلو، انسان تښتولو او نورو داسې ناوړه او ناروا کارونو بوخت دي چې اولس يې پزې ته راوستلی او ملت يې د قانون له حمايت او ملاتړ نه محروم کړي دي. د يادولو وړ خبره داده چې د پخواني کمونست حکومت عسکر، خاد او حتی ګوندي فعالين پۀ دې ګډوډيو کښې بنسټيز لاس لري، منصوبې او پلانونه جوړوي او د ځينې تنظيمونو وسله والې ډلې يې يا پۀ نژادي او سيمه ييزو بنيادونو له ځان سره ملې کړي او يا پۀ بې خبرۍ کښې ددوی پۀ ګټه استعماليږي.

ددې ګډوډۍ دله منځه وړلو له پاره بۀ بې طرفه عبوری حکومت چې د تنظيمونو، ملت او نړيوال ملاتړ بۀ لري، د افغانستان د پخوانيو روزل شويو او مجربو عسکري او پوليسي منصبدارانو پۀ وسيله د ملي دفاع او داخلي امنيت وزارتونه جوړوي چې د پخوانيو کمونيستی منصبدارانو پۀ شمول بۀ ټول وسله وال ګروپونه وسله ورته سپاري او بيا بۀ نومورې وزارتونه پۀ ټول هيواد کښې د يوه ډاډمن امنيت دټينګولو له پاره کار کوي.

د ډاډمن امنيت پۀ راتللو سره بۀ له يوې خوا د هيواد ټول هغه مهاجرين چې پۀ ګاونډيو هيوادونو کښې پۀ خپل هيواد کښې د ډاډمن امنيت د

ketabton.com - The Digital Library

راتلو پۀ انتظار شپې ورځې تیروي خپل هیواد ته پۀ اطمینان او ډاډ راستانۀ شي او حتی هغه زیات افغانان بۀ چې پۀ اروپا، امریکا او استرلیا کښې مهاجر دي او له مادي اړخه سنۀ ژوند لري، د هیواد د خدمت پۀ منظور بیرته هیواد ته راشي او یو ځل بیا بۀ خوارۀ وارۀ افغانان راټول شي. له بلې خوا بۀ د نړۍ هغه هیوادونه چې د افغانستان د بیا ابادولو پۀ کار کښې یې د نقدي او جنسي مرستو وعدې کړې مطمئن شي او له خپلو ژمنو سره سم بۀ هیواد ته مرستې راولیږي او دعبوري بې طرفه حکومت تر ځارنې لاندې بۀ زمور د ګران وطن د بیا آبادولو کار پیل شي.

پۀ دې ترتیب د ډاډمن امنیت پۀ راتلو سره به له یوې خوا خلك آزاد تنفس وکړای شي او دخپلې رایې او فکر دخرګندولو زمینه بۀ ورته برابره شي، له بلې خوا بۀ وسله والې ډلې د زور پر ځای له ملت سره د منطق له لارې مخامخ شي، له اولس سره بۀ مفاهمه ولري او بیا بۀ د ملي منافعو پۀ رنا کښې د راتلونکي سیاسي ژوند د پرمخ بیولو له پاره لاره هواروي او دوطن پۀ بیا ودانۍ کښې بۀ داسې برخه اخلي لکه د دښمن پۀ ماتولو او شړلو کښې یې چې اخیستې وه.

همدا د ډاډمن امنیت ګام بۀ ددې زمینه برابره کړي چې ملت یو ځل بیا سترګې وغړوي او د نړیوالو بشري حقوقو پۀ رنا کښې دخپل سیاسي برخلیك د ټاکلو له پاره اقدام وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

څلورم ګام

سراسري سرشميرنه

پهٔ افغانستان کښې بهٔ بې طرفه حکومت د ډاډمن امنیت تر ټینګیدو وروسته پهٔ هیواد کښې د سراسري سرشمیرنې له پلاره اقدام کوي او دا کار ځکه له ضروري ګامونو څخه دی چې:

لومړی: تر اوسه پهٔ افغانستان کښې یوه واقعي سرشمیرنه نهٔ ده شوې او څه احصائیې چې شته ټولې تقریبي، نسبي او اټکلي دي.

دوهم: د افغانستان د هر اړخیزې بیا رغونې پهٔ لړ کښې د هیواد د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي اډانې بیا وداتول باوري احصائیو ته اړه لري او کهٔ داسې ونهٔ شي نو دافغاني ټولنې د ټولو سیمو او نژادونو دعادلانه اومساوي پرمختګ زمینه بهٔ برابره نهٔ کړای شو.

دریم: تر ټولو خطرناکه خبره داده چې د باوري احصائیو د نشتوالي له امله یو شمیر کورنیو مخربینو او بیرونیو دښمنانو ته ددې زمینه برابره شوې ده چې زمور د واحد، نهٔ بیلیدونکي او یو موټي تاریخي ملت د بیلا بیلو قومونو او د بیلا بیلو مذهبونو د پیروانو تر منځ درزونه واچوي او له دې لارې د افغانستان د بربادی او د سیاسي موجودیت دله منځه وړلو له پاره کار وکړي، د نفوسو د تناسب د نماینده ګۍ پهٔ نامهٔ یوه ډله او یا دیوهٔ نژاد پیروان راولاړ شي او د سیاسي سیادت د استحقاق دعوی وکړي، یا له ګډ وډۍ نه پهٔ استفادي سره نژادي او مذهبي ګروپونه دځان له پاره

ketabton.com - The Digital Library

په‌ واك كښې دبرخې اخيستلو پۀ غرض فيصدي وټاكي او دكلاشينكوف پۀ زور يې تحقق وغواړي. په‌ دې برخه كښې تر ټولو خطرناك هغه تشبثونه دي چې ځينې هغه هيوادونه يې كوي چې د افغانستان تاريخي دښمنان دي خو اوس د دوستۍ پۀ جامه كښې مور ته احصائيې خلق كوي او زمور پۀ هيواد او ملت كښې د داسې درزونو د رامنځ ته كولو پۀ هڅه كښې دي چې زمور د هيواد تاريخي موجوديت، ملي خپلواكي، ملي ګټې او ملي حيثيت متضرر كړي. زۀ ددې هيوادونو د دښمنانه هلوځلو د ښودلو له پاره يوه وړه نمونه يادول غواړم:

پۀ همداسې يوۀ هيواد كښې يو چاپ شوى علمي كتاب چې د نړۍ د هيوادونو معرفي پكښې ده، د افغانستان د اوسيدونكو احصائيه داسې وركوي: د افغانستان خلك پۀ ٪ ٦٠ پښتانه قومونه، پۀ ٪ ٣٠ تاجيك، پۀ ٪ ٥ اوزبك او پۀ ٪ ٥ هزاره او نور دي، اوسيدونكي يې پۀ عمده ډول مسلمان (اكثر سني) او لويې ژبې يې عبارت دي له پښتو، دري او اوزبكي څخه، ليكدوديې عربي دى. خو د همدې هيواد د سياست اداري چې بيا پۀ افغانستان كښې د خپلو ناوړو غرضونو د پلي كولو پۀ فكر كښې كيږي نو بيا پۀ بل كتاب كښې د احصائيو پۀ خلق كولو لاس پورې كوي او ليكي: د افغانستان اوسيدونكي پۀ ٪ ٣٥ پښتانه، په ٪ ١٥ تاجك، پۀ ٪ ٢٥ اهل تشيع او پاتې يې نور قومونه دي.

تاسې وګورئ چې تفاوت ده از كجا تا به كجاست؟ او ددې دښمنانو د غرض سترګې څومره ړندې دي او څنګه غواړي چې ددې احصائيو پۀ رامنځته كولو سره د افغانستان ملي وحدت ته زيان واړوي او دا ميړنې او پردى شكن ملت د نورو جګړو پۀ اوړونو كښې راښكيل كړي.

نو مور بهۀ پۀ دې حساسه مرحله كښې د نړيوالو معيارونو له مخې، د ملګرو ملتو پهۀمرستو وكړاى شو داسې سراسري سرشميرنه وكړو چې واقعي احصائيې لاس ته راشي او د هغې نتايج بهۀ له يوې خوا بدګومانۍ او شكونه له منځه يوسي او د بهرنيو دښمنانو دسيسې او وسوسې پۀ شنديې كړي او له بلې خوا بهۀ د همدې احصائيو پۀ ډاډ تر هر څۀورانديې د خپل هيواد اجتماعي او سياسي اډا نه پۀ يوه عادلانه سيستم جوړه كړو او ورسره به خپل اقتصادي او فرهنګي ټول پروګرامونه عيار كړو او د لوى خداى جل جلاله پۀ مرسته بهۀ پۀ افغانستان كښې يو داسې ملي اسلامي نظام تينګ شي چې د واحد ملت د هيڅ قوم منسوبينو، د هيڅ مذهب پيروانو او د هيڅ سيمې اوسيدونكو ته بهۀ د هيڅ راز ګيلې ځاى نۀ پريږدي او پۀ بشپړه ملي لوړينه بهۀ د ټول ملت له پاره كار كوي.

ketabton.com - The Digital Library

پنځم ګام

نوی ملکي او اداري ویش

په افغانستان کښې به په نړیوال معیار او نړیواله مرسته د شوې سرشمیرنې له مخې ټولې اتنیکي او نژادي، مذهبي او سیمه ییزې محاسبې او احصائیې تر لاسه شي او ددې احصائیو له مخې به هیواد داسې نوي اداري او ملکي ویش ته چمتو شي چې ددې ټولو احصائیو د نتایجو په نظر کښې نیولو سره به په هیواد کښې نوي ولایتونه او اولسوالۍ جوړې شي او ددې ویش له مخې به هر څوک، د هرې سیمې خلك، له هر قوم سره مربوط خلك، د هرې ژبې ویونکي خلك او د هر مذهب پیروان ددې جوګه شي چې په خپل ګډ او تاریخی هیواد کښې په عادلانه ډول خپل ټول فرهنګي، اقتصادي، سیاسي او اجتماعي حقوق تر لاسه کړي او د دولت هره اداره به د همدې احصائیو په بنا هرې-هرې سیمې ته خپل پروګرامونه جوړوي او دخلکو له ارتیاؤ او غوښتنو سره سم به یې عیار وي.

دلته دا هم د یادولو ده چې په افغانستان کښې د خپلواکۍ تر لاسه کیدلو وروسته د هیواد ملکي ویش په پنځو ولایتونو او څلورو اعلی حکومتونوولاړ ؤ، تر مرکز پرته نور ولایتونه په نایب الحکومګیو یادیدل، په ۱۲۹۹ هـ ش (۱۹۲۰ ع.) کال هیواد د کابل، کندهار، هرات، ترکستان، قطغن او بدخشان په نامه ولایتونه درلودل او اعلی حکومتونه په مشرقي، جنوبي، فراه او په میمنه کښې وو. په ۱۳۰۹ هـ . ش. کال کښې د اورګون مستقل حکومت هم پرې ور زیات شو. په ۱۳۱۸-۱۳۱۹ کلونو کښې د هیواد په ملکي ویش کښې زیاتې لاسوهنې وشوې او په ټولو ولایتونو کښې لوی-لوی حکومتونه جوړ شول.

ketabton.com - The Digital Library

خو د هیواد پۀ ملکي ویش کښې ډیر لوی بدلون پۀ ۱۳۴۳ هـ ش کال کښې راغی او ټول هیواد پۀ لاندې ۲۸ ولایتونو وویشل شو:

۱- بلخ د (٦) اولسوالیو او (٤) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۲- بغلان د (٤) اولسوالیو او (٤) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۳- سمنګان د (۲) اولسوالیو او (۳) علاقداریو پۀ لرلو سره.
٤- کندوز د (٤) اولسوالیو او یوې علاقداری پۀ لرلو سره.
٥- هرات د (۱۰) اولسوالیو پۀ لرلو سره.
٦- بادغیس د (۳) اولسوالیو او (۳) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۷- نیمروز د (۳) اولسوالیو او (۳) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۸- فراه د (٤) اولسوالیو او (٥) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۹- کندهار د (۸) اولسوالیو او (٥) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۱۰- زابل د (٤) اولسوالیو او (٦) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۱۱- کابل د (۷) اولسوالیو او (۳) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۱۲- لوګر د (۲) اولسوالیو او (٤) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۱۳- وردګ د (۳) اولسوالیو او (٤) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۱٤- پروان د (٦) اولسوالیو او (۷) علاقداریو پۀ لرلو سره.
۱٥- کاپیسا د (۲) اولسوالیو او (۱۱) علاقداریو پۀ لرلو سره.

ketabton.com - The Digital Library

۱۶- ننګرهار د (٦) اولسوالیو او (۱۱) علاقداریو په لرلو سره.
۱۷- لغمان د (۲) اولسوالیو او (۳) علاقداریو په لرلو سره.
۱۸- کونړ د (٦) اولسوالیو او (٦) علاقداریو په لرلو سره.
۱۹- بدخشان د (٥) اولسوالیو او (۷) علاقداریو په لرلو سره.
۲۰- جوزجان د (٤) اولسوالیو او (۷) علاقداریو په لرلو سره.
۲۱- هلمند د (۷) اولسوالیو او (۷) علاقداریو په لرلو سره.
۲۲- غور د (٥) اولسوالیو او (۱) علاقداری په لرلو سره.
۲۳- روزګان د (٦) اولسوالیو او (۳) علاقداریو په لرلو سره.
۲٤- بامیان د (۳) اولسوالیو او (۲) علاقداریو په لرلو سره.
۲٥- غزني د (٦) اولسوالیو او (۸) علاقداریو په لرلو سره.
۲٦- پکتیا د (۱٦) اولسوالیو او (۱٥) علاقداریو په لرلو سره.
۲۷- فاریاب د (٤) اولسوالیو او (۷) علاقداریو په لرلو سره.
۲۸- تخار د (٦) اولسوالیو او (۷)علاقداریو په لرلو سره.

خو کله چې همدا وخت په هیواد کښې د اولسي جرګې له پاره انتخابات وشول نو د انتخاباتو د قانون له مخې یوازې له هرې اولسوالۍ نه د یوۀ نماینده د راتللو چانس ؤ او هغو ولایتونو چې ډیرې علاقداری درلودې کۀ څۀ هم له اداري لحاظه خلکو ته سهولت ؤ خو له سیاسي اړخه د علاقداریو اوسیدونکو د نماینده رالیږلو حق نۀ درلود او د زیاتو علاقداریو درلودونکو ولایتونو ته زیات سیاسي زیان واوښت.

ketabton.com - The Digital Library

په٦ راوروسته کښې ځينې نور ولايتونه هم جوړ شول او ځينې علاقداری هم په٦ اولسوالیو واوښتې خو له دې ټولو سره-سره عادلانه اداري او ملکي ويش منځ ته نه٦ دی راغلی.

دا ځل به د بې طرفه حکومت له خوا د تر لاسه شويو احصائيو له مخې ولايتونه او خصوصاً اولسوالی په٦ داسې ډول جوړېږي چې لومړنی زده-کړې بې تکليفه د هغې سيمې د خلکو په٦ ژبه کښې شي، اخبار-راډيو-تلويزيون په٦ باوري فيصدي د خلکو د اوسيدونکو له پاره ددوی په٦ ژبو نشرات وکړي، انکشافي پلانونه د سيمې د خلکو له اړتياؤ سره سم عيار شي او له سياسي اړخه د هيواد ټول خلك په٦ اولسی جرګه، مشرانو جرګه او لويه جرګه کښې نمايندګان ولري. له قضايي اړخه به٦ قاضيان د سيمې د خلکو له مذهبي غوښتنو سره سمې پريکړې کوي او په٦ دې توګه به٦ دا نوی اداري او ملکي ويش د خلکو له راز-راز غوښتنو سره سم او عادلانه وي.

ketabton.com - The Digital Library

شپږم ګام

د قوانینو تسوید

د ډاډمن امنیت تر ټینګولو، د سراسري سرشمیرنې تر ترسره کولو او د نوي ملکي اداري ویش ترکولو وروسته به٘ د بې طرفه مؤقت حکومت بل ګام د «اساسي قانون» او د ضروري «فرعي قوانینو» د تیارولو پۀ لور وي.

حکومت به٘ د اساسي قانون د تسوید له پاره یوه داسې کمیته ټاکي چې د نړیوالو حقوقو متخصصین، دا سلامي فقهي ماهرین او د افغاني ټولنې ټولنپوهان به٘ پکښې راغونډوي، دوی به٘ د هرې مادې پۀ لیکلو کښې نړیوال قوانین، اسلامي اساسات اود افغانستان د ملت غوښتنې او شرایط پۀ نظر کښې نیسي او له ګوندي، سمتي، نژادي او مذهبي تعصبونو نه د باندې به٘ داساسي قانون د متن مسوده تیاروي او یو داسې قانون به٘ جوړوي چې د تطبیق ساحه ولري او دافغانستا٘ملي او نړیوال حیثیت پکښې پۀ٘ښه توګه ٘تحلیدلی وي.

د اساسي قانون د تسوید تر څنګ ٘ځینې ضروري فرعي قوانین هم باید د یوه هیأت له خوا تسوید شي، پۀ٘ دې قوانینو کښې د اوس له پاره ډیر مهم یې:

۱- دا حزبو قانون،

۲- د انتخاباتو قانون او

۳- دمطبوعاتو قانون دي.

ketabton.com - The Digital Library

۱- د احزابو قانون:

ددې قانون په باب دا هم د یادولو ده چې مور تر اوسه په افغانستان کښې د احزابو نافذ قانون نۀ درلود او له همدې امله په افغانستان کښې احزاب قانوني نۀ دي او همدا بې قانونه احزاب وو چې په تیرو اتلسو کلونو کښې یې افغانستان وران کړاو د قدرت د هوس او د مادي ګټو لپاره د افغانستان د ټولو ملي مصالحو خلاف دپردیو هیوادو غیرې ته ولویدل او ملی ګټې یې تر پښو لاندې کړې. که څه هم په هیواد کښې دا حزابو یو نا نافذ شوی قانون شته چې د شاهي دوران د دموکراسۍ په لسیزه کښې تسوید شوی ؤ خو نۀ هغه وخت او نۀ اوس زمور د سیاسی غوښتنو خوابګوی ؤ. (ددې قانون د مسودې یو متن د لیکونکی په کتابتون کښې خوندي دی) همدا راز نجیب چې کوم د احزابو په نامه قانون راایستلی ؤ هغه نور ښکیلاکي اهداف درلودل او لکه څرنګه چې ددۀ حکومت افغانانو ته قانونیت نۀ درلود همدا راز یې قانون هم رد او د ملي خپلواکۍ او ملی ګټو ضد ؤ. نو د احزابو د قانون نوې مسوده بۀ داسې کسان کوي چې له حقوقي تخصص سره-سره په افغانستان کښې داحزابو په تاریخ او کړو وړو هم بنۀ خبر وي او ژوره مطالعه پرې ولري.

۲- د انتخاباتو قانون:

دا قانون په افغانستان کښې لومړی ځل په ۱۳۰۷ کال کښې جور شوی ؤ خو د اماني حکومت د رنګیدلو له امله عملي نۀ شو او بیا د نادر-شاه په وخت کښې په لږ تغییر نافذ او په هیواد کښې اولسي جرګه جوړه شوه. د دموکراسۍ په لسیزه کښې دا قانون په نوي بڼه راوووت او د هغې له مخې د اولسي جرګې له پاره څو دورې انتخابات وشول او بیا د کودتایي حکومتونو له امله د انتخاباتو قانون له منځه ولاړ او د نجیب د وخت فرمایشي انتخاباتو هیڅ قانوني حیثیت نۀ درلود. د انتخاباتو د نوي قانون متن بۀ ددې ټولو سوابقو په نظر کښې نیولو او د نوې سراسري

ketabton.com - The Digital Library

سرشميرني په اساس رامنځ ته شوي نوي ملکي او اداري ويش له مخې ترتيبيږي او داسې يو قانون به وي چې د افغانستان ټول ملت ته د برخې اخيستلو حق پکښې حاصل وي.

۳- د مطبوعاتو قانون:

مور په خپل هيواد کښې د مطبوعاتو قوانين له ۱۳۰۳ کال راوروسته لرو چې وخت په وخت بدلونونه پکښې شوي خو په تيرو پنځلسو کلونو کښې په هيواد کښې د ننه مطبوعات د ملي پاليسۍ پر ځای د روسي پاليسۍ تابع وو او دکودتايي واکمنو د ظالمانه رژيم د بقا سندري يې ويلې او له هيواد نه بهر مطبوعات دومره خوارۍ وارۍ وو چې د انارشيزم يوه ډيره سبه ځونه يې بللای شو، ځينې د رهبرانو په خدمت کښې وو او ددوی هره وينايې د کاڼي کړښه بلله او ځينې نور بيا فردي، شخصي او د هغه او دغه د منافعو له پاره وو او حتی نشراتو په ډير جرأت د ملي کرکې د رامنځ ته کولو له پاره په خلاص مټ کار وکړ چې اغيز يې مور د هيواد په تيرو درې نيم کلنو جګړو کښې ولید نو په دې ملحوظ به د مطبوعاتو قانون هم د انساني، اسلامي، اخلاقي او ملي ارزښتونو په نظر کښې نيولو سره تسويد او جوړيږي.

ددې قوانينو په تسويد سره به بې طرفه حکومت په هيواد کښې د قانوني اداري د جوړيدو په لور يو بل مهم ګام اخلي او په افغانستان کښې به د وحشت او بربريت پر ځای د قانونيت له پاره لاره هواروي.

ketabton.com - The Digital Library

اووم ګام

لويه جرګه

بې طرفه حکومت بهٔ د ټولو امنیت پهٔ رامنځ ته کولو سره پهٔ هیواد کښې د سیاسي تنفس زمینه برابره کړي، د سراسري سر شمیرنې پهٔ وسیله بهٔ پهٔ هیواد کښې دقیقې احصائیې تر لاسه کړي، د نوي ملکي اداري ویش پهٔ وسیله بهٔ انتخابي حوزې تثبیت کړي او دقوانینو د تسوید سره بهٔ د قانوني چلند مرحلو ته ورسیږي.

اساسي قانون بهٔ تر تسوید وروسته د اولس نماینده ګان تصویبوي او د اولس د با صلاحیته نماینده ګانو د ټاکلو او راغونډولو یوازینۍ لاره لویه جرګه ده، لویه جرګه نهٔ یوازې دا چې زمونږ یوه ملي عنعنه ده بلکه زمونږ داولس د زرګونو کلونو د سیاسي تجربې نتیجه ده او همدا یوازینۍ تاریخي مقام دی چې د اولس برخلیك ټاکي او د اولس د سیاسي ژوندانهٔ اډانه برابروي.

لویه جرګه له درې-درې نیم زره کلونو را پهٔ دې خوا زمونږ پهٔ هیواد کښې یوه یوازینۍ سیاسي مؤسسه ده چې د افغانستان ملت ته ورپیښې ستونځې، پرابلمونه او بن بستونه یې وخت پهٔ وخت له منځه وړي او دملت تر منځ یې د «ملي مصلحت» زمینه رامنځ ته کړې ده.

پهٔ اوسني افغانستان کښې میشتو پخوانیو آریائیانو د خپلو شخړو د حل او دخپلو ټولنیزو چارو د سمون له پاره دوې جرګې درلودې، یوې جرګې چې لویه جرګه وه د ټول ملت پهٔ سطحه کار کاوهٔ اوبلې جرګې محلي ستونځې هوارولې، همدا عنعنه زمونږ پهٔ تاریخ کښې مونږ ته پهٔ میراث راپاتې شوه، پهٔ اتلسمه میلادي پیړۍ کښې میرویس نیکهٔ او احمد شاه بابا پر هیواد باندې د پردو د تیریو سیوری د همدې لویو جرګو د لمر پهٔ رڼا

ketabton.com - The Digital Library

کښې له هيواده لرې کړ او زمونږ په آزادۍ،مين ملت خپلواکي يې تأمين او تضمين کړه.

په شلمه پيړۍ کښې د دوو تباه کوونکو لويو جګړو له لنبونه زمونږ هيواد د همدې لويو جګړو په تدبير او پريکړه وژغورل شو او په هيواد کښې له ۱۹۲۳ کال را په ديخوا داساسي قانون خښته او بيايې دوام د همدې لويو جګړو د پريکړو محصول ؤ.

په هر صورت لويې جګړې په عملي توګه ثابته کړې چې زمونږ د ټولنې دا ويارمنه او اغيزمنه سياسي مؤسسه زمونږ د ملت په سياسي ژوند کښې لوی لاس لري او هر وخت ملت د تباهۍ او بربادۍ له کندې څخه راايستلای شي.

کمونستان چې په ۱۳۵۷ کال کښې د افغانستان پر سياسی قدرت مسلط شول نو د روس دسياسي ملاتړ په ډاډ يې ټولو ملي ارزښتونو ته لته ورکړه او د لويې جګړې او اولسي جګړې پر ځای يې د روسانو په تقليد پلار وطني او مور وطنې جبهې جوړې کړې خو کله چې دافغانستان مؤمن او قهرمان ملت د خپل هوډمن پاڅون په وسيله کمونستي رژيم ته ژور او و ژونکي ټکانونه ورکړل نو له ډيره مجبوريته يې د قلابي او جعلي لويو جګړو په جوړولو لاس پورې کړ خو وخت تر وخت تير ؤ او د ملت د قهر په څپو کښې لاهو شول.

اوس هم چې د اسلامي حکومت په نامۀ له خلورو کلونو راهيسې کومه اداره جوړه شوې د ځان د اسلامي ثابتولو له پاره په درنو-درنو حلقي الفاظو پسې ګرځي او په دې ډله کښې يې دلويې جګړې پر ځای هم د «اهل حل و عقد» نوم غوره کړ او خپل بريښي يې پکښې راټول کړل خو عملي نه شوه او د يوې قانوني اداري د جوړيدو نتيجه پرې مرتبه نه شوه نو له دې کبله به مؤقت حکومت مکلف وي چې د اساسي قانون د منلو له پاره لويه جرګه راوغواړي او ددې جرګې په ترکيب کښې به د اهل حل و عقد پر خلاف پر ديني علماوو سربيره، قومي مشران، روشنفکران او هغه غازيان چې روس او د هغه مزدورانو ته يې ماته ورکړې هم برخه ولري او دا ټول به په ګډه د خپلو تجربو په رنا کښې دخپل ملت برخليك تاکي.

ketabton.com - The Digital Library

اتم ګام

د قوانينو انفاذ

لويه جرګه بهٔ د نوي اساسي قانون پهٔ تصويبولو سره هيواد يو ځل بيا د قانون عادلانه غيږې ته واچوي چې د دولت مشر بهٔ دا قانون توشيح کوي، د عدل او قانون اداري بهٔ يې تعقيبوي، دولتي اداري بهٔ يې تعميلوی او دځنګل روان قانون بهٔ پای ته رسيږي.

د اساسي قانون له نفاذ سره سم بهٔ د احزابو، انتخاباتو، مطبوعاتو او ځينې نور مهم قوانين د دولت د تقنيني فرامينو له مخې چلند ته لويږي او د افغاني ټولنې د ژوند ټولې ساحې بهٔ قانونی مسير مومي.

د قوانينو انفاذ او حمايت بهٔ افغانانو ته موقع ورکړي چې پهٔ خپله خوښه د خپل هيواد له شرايطو سره سم پهٔ هيواد کښې د لومړي ځل لپاره قانوني احزاب تشکيل کړي او د ټوپکونو او توپونو تر ايښودلو وروسته پهٔ منطق او د خدمت پهٔ پروګرامونو سنبال ملت ته ور وړاندې شي او دانتخاباتو له پاره کمپاين پيل کړي. ۲۲

همدا راز بهٔ د مطبوعاتو قانون د هيواد ليکوالانو، روشنفکرانو او پوهانو ته ددې موقع مساعده کړي چې د خپلو ملي ګټو پهٔ نظر کښې نيولو سره قلم پورته اود کاغذ مخ ته خهٔ وسپاري اود وروستيو اوولسوکلونو مطبوعاتي انارشي او د مطبوعاتو له لارې دپردو بادارانو خدمت جبيره کړي.

د قوانينو پهٔ انفاذ سره بهٔ د زور له لارې د واکمنی دعوې پای ته ورسيږي، زور ګويي او د وسلو پهٔ زور پر خلکو ځان تپل بهٔ نور پهٔ ټولنه کښې مردود او مطرود شي.

د قوانينو انفاذ بهٔ دولت ته د مشروع قدرت او اتوريتې د تعميل زمينه مساعده کړي او د قوانينو انفاذ بهٔ ملت ته حق ورکړي چې د خپل ځان، دخپلو شتو، خپل حيثيت او بالاخره خپلو ملي حقوقو، شتمنيو او حيثيت د ساتلو له پاره مراجع وپيژني او له هغوی نه خپل حق او غوښتنې تر لاسه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

نهم ګام

عمومي انتخابات

د افغانستان د عبوري او مؤقت حکومت يو ډير مهم کار به ٔ تر ټولو قانوني لارو هوارولو وروسته په ٔ ټول هيواد کښې د بې وټه، آزادانه، عادلانه او واقعي انتخاباتو ترسره کول وي.

د انتخاباتو د عادلانه قانون له مخې به ٔ هغه ټول افغانان چې قانوني سن يې پوره کړی وي په ٔ انتخاباتو کښې برخه اخلي، ښځې او نارينه به ٔ دواړه د خپل برخليك په ٔ ټاکلو کښې مساوي وندې لري، د نفوسو تناسب به ٔ د يوې حوزې د وکالت وندې جوړوي، د احزابو پر ځای به ٔ اشخاص چې ګوندي او هم آزاد شخصيتونه به ٔ وي کانديديږي. د عقيدې، ژبې، سيمې او نژاد اختلاف به ٔ د رايې په ٔ برخه کښې هيڅ اغيز نه ٔ لری او لکه د راغلي تعامل غوندې به ٔ يوازې جنايتکاران او له مدني حقوقو نه محروم شوي کسان حق نه ٔ لري چې په ٔ انتخاباتو کښې د کانديدونکي په ٔ حيث برخه واخلي اوملي امانت تر لاسه کړي.

د انتخاباتو ځارنه به ٔ په ٔ بيروني سطحه د ملګرو ملتو او داسلامي هيوادو د کنفرانس د هيأتونو له خوا کيږي، د انتخاباتو چارې به ٔ د پوهنې او قضا منسوبين پرمخ بيايي او امنيتي چارې به ٔ يې د دفاع او داخلي وزارتونو هيأتونه چې پخوا به ٔ په ٔ ملي سطح جوړ شوي وي، ترسره کوي.

انتخابات به ٔ سرې، آزاد او بې له جبر او اکراه تر سره کيږي او وسله وال ځواکونه به ٔ حق نه ٔ لري چې د انتخاباتو په ٔ ساحه کښې وګرځي او يا ځوک تهديد او تخويف کړي.

د داسې بې وټه او عادلانه انتخاباتو له لارې به ٔ د اولس نمايندګان چې او په ٔ ګران هيواد افغانستان کښې به ٔ د يوۀ قانوني او عادلانه حکومت د جوړولو منزل را لنډ شي.

ketabton.com - The Digital Library

نتیجه

منتخب حکومت

پهٔ افغانستان کښې بهٔ د بې طرفه مؤقت حکومت راتلل پهٔ لومړي قدم کښې د بې امنۍ د مخ نیولو او د بې طرفه لښکر او پولیسو پهٔ رامنځ ته کولو سره دامن امنیت ټینګ کړي او بیا بهٔ ګام پهٔ ګام د سراسري سرشمیرنې، نوي ملکي اداري ویش، د قوانینو جوړولو، لویې جرګې رابلل، دقوانینو د انفاذ او بیا د عمومي انتخاباتو د کولو له لارې د یوهٔ منتخب حکومت جوړیدلو ته لاره هواره کړي او پهٔ دې وسیله بهٔ افغانستان وکړای شي چې د یوهٔ قانوني او مشروع حکومت څښتن شي.

منتخب حکومت بهٔ د عمومي پارلماني انتخاباتو پهٔ نتیجه کښې د بریالي ګوند له خوا جوړیږي او اپوزیشن بهٔ د قانون پهٔ چوکاټ کښې منطقي مخالفت ورسره کوي. د اقتدار لیونۍ جګړه بهٔ پای ته رسیږي او د وسله والې مسابقې او برتري غوښتلو هڅې بهٔ د تل له پاره ختمیږي. پهٔ پارلماني شخړو کښې بهٔ د اولس لپاره د جګړو خطر نهٔ وي او حکومت او اپوزیشن بهٔ پهٔ ګډه هڅه کوي چې د اولس د هوسایۍ او سوکالۍ له پاره ګامونه واخلي او پروګرامونه جوړ کړي.

پهٔ افغانستان کښې بهٔ دمنتخب حکومت پهٔ رامنځ ته کیدو سره د افغانستان اساسي قانون او نور فرعي قوانین د دولت او حکومت

ketabton.com - The Digital Library

صلاحیت ونه، وظایف، د کار طرز او د انتخاب ډول ټاکي او د ټولو شخړو د حل لارې به د دقانونی بهیر له لارې تر سره کیږي.

په دې ترتیب کۀ په افغانستان کښې د قانوني اداري د جوړولو په لور پورتنې ګامونه وانه خیستل شي نو په هیواد کښې به له بلې هرې لارې څخه د یوۀ قانوني، ملي او دخلکو د نماینده حکومت د جوړیدو هڅې بې نتیجې وي او د اقتدار ناولې او خونړی جګړې به د دوامداري شي او هغه فاتح ملت به چې د شوروي غوندې نړیوال طاقت یې رانسکور کړی په دې بې سره اور کښې پوخ او مضمحل شي.

په دې حساسه مرحله کښې ټول افغانان د نړۍ په هر ګوټ کښې چې اوسیږي، مکلفیت لري چې دخپل هیواد د نجات له پاره لاسونه سره یو کړي، واحد اقدام وکړي، د نړیوالو ټولنو مرسته وغواړي او په خپل ګران هیواد کښې د یوې قانوني اداري د ټینګولو لپاره ګډه هڅه وکړي او په هیواد کښې د یوۀ قانوني او منتخب حکومت د رامنځ ته کولو له پاره لاره هواره کړي.

و ما علینا الا البلاغ!

ketabton.com - The Digital Library



د افغانستان د بشر د حقوقو اعلامیه

ketabton.com - The Digital Library

یادښت

دافغانستان د بشر د حقوقو د اعلامیې طرح ما په ۱۳۷٤ / ۱۹۹۵ کال په افغانستان کښې د بشر د حقوقو سمینار له پاره چې د CCA— له خوا جوړ شوی ؤ لیکلې وه چې د سمینار ګډون کوونکو په یوه خولې تأیید او د سمینار له خوا تصویب کړه، دا دې دا طرح د نورو افغانانو مخې ته هم ږدم او هم ددې له پاره چې په افغانستان کښې د بشر د حقوقو تاریخي خیره روښانه شوې وي د بشر د حقوقو د تثبیت او تأمین منابع مې- هم د مقدمې او مدخل په توګه په لنډ ډول ورسره ځیرلې دي او له دې طرحې سره یې وړاندې کوم !

په مینه

ح - رفیع

ketabton.com - The Digital Library

په افغانستان کښې دبشر دحقوقو دتثبیت او تأمین منابع
او
«دافغانستان دبشر دحقوقو غوښتنليك»

په افغانستان کښې دبشر دطبیعي، مدني او سیاسي حقوقو سیر دتاریخ ډیرو لیرې پورې ته رسیږي او دهغو بشري حقوقو بیلابیلې برخې چې نن په نړۍ کښې داساسي حقوقو په توګه مطرح دي وخت په وخت په نظر کښې وې او دتاریخ په مسیر کښې یې دتثبیت او تأمین نخښې راپاتې دي.

په عمومي توګه دافغانستان په تاریخي ژوند کښې دبشر دحقوقو دتعیین، تثبیت، تأمین او تضمین منابع په څلورو برخو کښې مطالعه کولای شو:

۱- افغاني عنعنه.
۲- اسلامي احکام.
۳- اساسي قوانین.
٤- دبشر دحقوقو نړیواله اعلامیه.

چې لاندې په لنډیز پرې غږیږو:

ketabton.com - The Digital Library

۱- افغاني عنعنه:

هغه څۀ چې مور نن افغاني عنعنه ورته ويلای شو اساساً دآريانا پۀ لرغوني تاريخي غيږه کښې بنيادګزاري شوې او دتاريخ له ډيرو ليرې پورې نه يې زمور پۀ هيواد کښې دبشري حقوقو او ټولنيز ژوند اساسات ټاکلي دي او مور دا عنعنه پۀ دوو تاريخي او کلتوري برخو کښې مطالعه کولای شو:

الف) تاريخي بڼه:

دافغاني عنعنې پۀ تاريخي برخه کښې دبشر دحقوقو مطالعه ددرې څلور زرو کلونو شا او خوا زمانې نه راپيلولای شو، دآريانا ويدي دوره تر تاريخ وړاندې او تاريخي دورې تر منځ يوه بله دوره ده چې مؤرخين نيمه تاريخي دوره ورته وايي (۱) پۀ همدې وخت کښې دټولنې پوهان او هوښياران دويد نامعلوم سرودونه راپيلوي او تر هر څه وړاندې همدا سرودونه دي چې خلك پوهې او زده کړې ته رابولي او دټولنې داوسيدونکو تر منځ دټولنيزو آدابو او حقوقو دمراعات لارښوونې کوي چې ورپسې معلوم سرودونه هم همدا لاره پالي او دبشري حقوقو پولې او حدود ټاکي (۲).

پۀ لرغونې آريايي ټولنه کښې دمشرتابۀ حق دلياقت او کفايت له مخې تثبيتيدۀ، دې حق طبيعي مراحل درلودل او پۀ همهغه کوچيانۍ دوره کښې چې لاښاري ژوند نۀ ؤ پيل شوی دمشرتابۀ مراتب ټاکلی وو له کورنۍ پيليدل او دټولنې تر واحد تشکل پورې رسيدل،دټولنې دتشکل لومړۍ کړۍ کورنی وه، پلاردخوراك دتهيه کولو او مور دهغه دمساوي او عادلانه رسولو مسؤوله وه، دې تشکل ته «کولا» (کهول) ويل کيدل، ورپسې تشکل «ګوترا»نوميدۀ، پۀ دې کښې بۀ دقبيلې هغه کورونه رايو ځای وو چې ګډ «آغيل» (شپول) بهٔ يې درلود او څاروي بهٔ يې پۀ ګډه پکښې درول، د«ګوترا» مشر بۀ دټولو پۀ خوښه ټاکل کيدۀ، ورپسې «ګوشتي» وه او هغه ګڼ ګوتراګان بۀ پکښې راغونډ وو چې ګډه ورشو او څړ ځای يې درلود، دې بۀ هم يو انتخابي مشر درلود، دګوشتيو له مجموعې نه بيا «ګرامه» جوړيده او ددې بۀ هم يو انتخابي مشر ؤ چې مور يې نن ديوې اولسوالۍ انډول بللای شو او دا بهٔ دځو څړ ځايونو دمجموعې نه جوړه شوې وه.دا دومره پوخ تشکل ؤ چې تر اوسه دګرام کلمه زمور دهيواد پۀ ډيرو

ketabton.com - The Digital Library

مکاني نومونو کښې شته لکه بګرام چې اوس هم یوه اولسوالۍ ده او داسې نور، ورپسې د«ویسه» یا «دیسه» تشکیل ؤ چې دځو ګرامو خلك بهٔ پکښې راټول وو چې له اوسني ولایت سره یې ورته بللای شو، «دیس» (۳) یا «ویس» بهٔ هم یوانتخابي مشر درلوده ددې تشکل دهرم پهٔ سر کښې د«جانا» پهٔ نامهٔ وروستنی تشکل ؤ چې دیوې وړې پاچهۍ حیثیت یې درلود او مشر ته بهٔ یې چې خلکو ټاکلی ؤ راجان وایه، (٤) دا دآریانا دمالداری او کوچیاني دورې تشکیلات وو چې له همدې تشکل سره بهٔ یې دژمې او اوړې لیږدیدنې درلودې چې بیّا وروسته دښارونو او ثابتو مرکزونو پهٔ جوړیدلو سره دمشرتابهٔ ساحه نوره هم پراخه شوه او دانتخاب حق تر یوهٔ حده پکښې وساتل شو.

پهٔ سیاسي حق کښې دخلکو دښه ګډون او تمثیل پهٔ خاطر دوی دوې عنعنوي جرګې هم درلودې چې یوه «سبها» او بله «سمیتی» نومیدهٔ، سبها بهٔ دکلي او سیمې وړې پیښې فیصله کولې او ځانګړې ټاکلې خونه یې درلوده، پهٔ دې جرګه کښې بهٔ ښځو هم برخه اخیسته او تردې بره د«سمیتی» پهٔ نامه دلویانو جرګه وه چې مشران بهٔ پکښې راغونډیدل، دهیواد پهٔ سطحه پیښې بهٔ یې پکښې فیصله کولې او پاچا بهٔ هم پکښې ټاکل کیدهٔ (٥).

پهٔ آریایي ټولنه کښې له دې کبله چې داولادونو درلودلو زیات ارزښت درلود اودیرغلګرو مقابلې ته دځوانانو ضرورت ؤ نوهلك او جینی تر پنځلس کلنی وروسته مکلف وو چې ودونه وکړي، هلکانو او نجونو بهٔ معمولا د«سامانه» پهٔ میله کښې سره خوښول، پهٔ وادهٔ کښې لومړی شرط دهلك او جینی خوښه وه ورپسې بهٔ دکورني رضایت هم ورسره ؤ چې دخاصو دودونو پهٔ ترڅ کښې ودونه ترسره شي. (٦)

طبقي پهٔ حاد شکل پهٔ ټولنه کښې مطرح نهٔ وې، دمسلك پهٔ لحاظ کهٔ طبقات وو هم ګډ کار یې کاوهٔ (۷) دغلامۍ دوره پهٔ هغه شکل چې پهٔ اروپا کښې وه او غلامان بهٔ له ځمکې سره خرڅیدل دلته مطرح نهٔ وه.

ریشیانو چې دټولنې پوهه طبقه وه خاص درناوی درلود او ځوانانو زده کړې ته کهٔ څهٔ هم شفاهي وه ارزښت ورکاوهٔ او دریشیانو ویناوې یې چې انساني درسونه یې درلودل پهٔ مینه اوریدلې. (۸)

پهٔ اوستایي دوره کښې چې بلخ دلوړو بیرغونو دښار پهٔ توګه دیوې ځواکمنې واکمنۍ مرکز ؤ او زردشت د«سپه منته، سپه وینه او سپه کرنه» تر

ketabton.com - The Digital Library

دري ګونو اصولو لاندې د «اهورا مزدا» په نامتخنه ولاړ دتوحید دین رامنځ ته کړ دخپلو تعلیماتو په رڼا کښې یې بشري حقوق نور هم روښانه کړل او خلك یې دیوې صالحې او سالمې ټولنې جوړولو او ساتلو ته راوبلل (۹) تر هغې را وروسته نورو ادیانو، عقایدو او مسالکو هم په خپل، خپل وار ددې هیواد ټولنې ته خپل اصول او لارښوونې وړاندې کړل چې دبشري حقوقو دګڼو اړخونو دتأمین او تضمین شرایط پکښې نغښتي وو.

ب- کلتوری بڼه:

په افغانستان کښې دټولنې دتنظیم او دبشري حقوقو دتثبیت او تأمین دې تاریخي عنعنې داسې کلتوري بڼه هم خپله کړه چې لا تر اوسه هم په یو شمیر افغاني قبایلو کښې په شدت او حدت موجوده او تردې حده حاکمه ده چې حتی دتاریخ په اوږدو کښې زمونږ حکومتونه اړ شوي چې همدې کلتوري عنعنې ته مراجعه وکړي او خپل پرابلمونه او ورپیښ مشکلات پرې حل کړي،له دې ډلې نه یوه هم لویه جرګه ده چې لا اوس هم دمشکلاتو دحل یوه بڼه لاره بلله کیږي (۱۰).

دافغاني عنعنې کلتوري بڼې ځکه دوامداره پاتې شوې چې له یوې خوا زمونږ ټولنه لا تر اوسه هم قبایلي ټولنه ده او حکومتونو په تمامه معنی تسلط نۀ پرې درلود نو ځکه دوی دخپل ټولنیز ژوند دتنظیم له پاره دا عنعنه ژوندۍ ساتلې ده او له بلې خوا ددې عنعنې کودونه دعملي تجربو له مخې تثبیت شوي او سره له دې چې شفاهي دي او دلیکلي قانون بڼه نۀ لري خو تطبیقي او عملي اړخ یې ډیر پیاوړی او اوسپنیز جزایي نظام یې تر شا ولاړ دی، ددې عنعنې له مخې تاکل شوي جزاګانې قاطعي، نۀ بدلیدونکي او درشوت او واسطې له اغیزنه وتلې دي. په افغاني عنعنه کښې دانسان ژوند دومره مهم دی چې جرګه حتی دقتل پۀ بدل کښې هم دقتل پریکړه نۀ کوي بلکه په قاتل او مجرم داسې ملاماتووتکی اقتصادي بار ږدي چې په دې نسبتاً فقیره ټولنه کښې بل څوك ددې بار له وړه ورته جرم ته زړه نۀ شي ښۀ کولای او هم دا عنعنه دښمني دخیښیو په کولو سره له منځه وړي او په ټولنه کښې یوه نوې روحیه رامنځ ته کوي (۱۱).

په دې توګه افغاني عنعنه هم له تاریخي او هم له کلتوري اړخه ددې ټولنې دافرادو دحقوقو په تاکنه او ساتنه کښې یوه اغیزمنه او عملي لار

ketabton.com - The Digital Library

وه او خصوصاً دجرګې او مسلات، جمهوري لاره پۀ ښه توګه پکښې سنکاره او څرګنده وه.

۲- اسلامي احکام:

دافغانستان پۀ خراساني دوره کښې دې هیواد ته داسلام دمقدس دین پۀ راتللو او دخلکو له خوا ددې سپیڅلي دین پۀ منلو سره دټولنې دحقوقي نظام دټینګښت له پاره اسلامي احکام ددوهمې منبع پۀ توګه دخلکو دحقوقو دتأمین له پاره رامنځ ته شول.

داسلام مقدس دین چې یو بشپړ دین دی او دانساني ټولنې دنیوي او اخروي چارې، عبادات او معاملات ټول یې تر پوښش لاندې دي، پۀ قرآني آیاتو، نبوي احادیثو او فقهي متونو کښې دټولنې داوسیدونکو ټول حقوق ټاکلي او د: «آیت، حدیث، اجماع او قیاس» دځلور ګونو سندونو له مخې دهغې چوکاټ بندي کیږي او زمونږ پۀ ټولنه کښې چې حکومتونو معمولاً شرعي محاکم پرانیستي وو اصولاً دتطبیق وړ وو چې دا حقوق پخوا نیو پاچایانو قسماً دفتاوو پۀ بڼه تنظیمول. ۳۳

پۀ اسلام کښې دژوند کولو حق دیوانسان داسې مسلم حق دی چې هیچا ته اجازه نشته چې هغه تري واخلي، دمطلق انسان دوژلو پۀ باب قرآن فرمایي:

«من قتل نفساً بغیر نفس او فسادٍ فی الارضِ فکانما قتل الناس جمیعاً و من احیاها فکانما احیا الناس جمیعاً» (۱۲).

ژباړه:

«کۀ څوک یو نفس بې له نفسه (بې بدله) او یا پۀ ځمکه کښې تر فساد کولو پرته، ووژني نو ګواکې ټول خلك یې وژلي دي او چاچې دغه (یو نفس) ژوندی کړ (دژوند ددوام سبب یې شو) نولکه ټول خلك یې چې ژوندي کړي وي.»

او دمسلمان دقتل پۀ برخه کښې حکم کوي:

ketabton.com - The Digital Library

«ومن يقتل مؤمنا متعمداً فجزائه جهنم خالداً فيها» (۱۳).

ژباړه :

«څوك چې يو مؤمن قصداً ووژني جزا يې جهنم ده چې تل به ۀ پكښې وي.»

اسلام تبعيضونه غندي او انسان له يوه اصله او نسله بولي، قرآن حكيم فرمايي:

«يا ايهاالناس اتقوا ربكم الذى خلقكم من نفس واحدةٍ و خلق منها زوجها و بث منهما رجالاً كثيراً و نساءً» (۱٤).

ژباړه:

«اى خلكو! (تل) له خپل خدايه وويريږئ هغه چې تاسې يې له يوه نفسه (آدم عليه السلام) څخه پيدا كړئ او له هغه څخه يې ددۀ جوړه (بي-بي حواء) پيدا كړه او له دوى دواړو نه يې ډير سړي او ښځې خوارۀ كړل».

او پۀ بل مبارك آيت كښې دانسانانو پۀ قومونو او قبيلو كښې ويشل يوازې ددوى دسره پيژندل كيدلو له پاره بولي او بس: ۳٤

«يا ايهاالناس انا خلقنكم من ذكرو انثى و جعلناكم شعوباً و قبايل لتعارفوا ان اكرمكم عندالله اتقيكم» (۱۵)

ژباړه:

«اى خلكو! تاسو ما پيدا كړي ياست له يوۀ سړي او يوې ښځې څخه او ګرځولي مې يئ څانګې او قبيلې چې سره وپيژندل شئ، پۀ تحقيق ستاسو ډير ښۀ ستاسو متقي او نيكوكار دى».

او همدا راز پۀ يوۀ بل مبارك آيت كښې دخلكو دژبو او رنګونو اختلاف دخداى نخښې ګڼي:

«و من آياته خلق السموت والارض و اختلاف السنتكم و الوانكم» (۱٦).

ژباړه:

«دلوى خداى له نخښو څخه داسمانونو او ځمكې جوړښت او ستاسو دژبو او رنګونو توپير دى».

ketabton.com - The Digital Library

چې په ټولو کښې یوازې هغو چاته تفوق او برتري حاصله ده چې سنه کارونه کوي او دټولنی له پاره ګټور وی.
او بالاخره د «**ولقد کرمنا بنی آدم**» (۱۷) په مبارک آیت سره انسان ته لوی خدای برتري، سنه والی، کرامت او خاص ارزښت ورکړی دی.

اسلام ټول انسانان دیوۀ پلار او مور اولاده او سره مساوي ګڼي :

«**خلقکم من نفس واحدة**» (۱۸) نارینه او ښځه یو دبل لباس بولي: «**هن لباس لکم و انتم لباس لهن**» (۱۹) او ټولو نارینه ژ او ښځو ته دسنو کارونو او نیکو عملونو دکولو توصیه کوی.

لوی خدای دمعلم اول په توګه آدم علیه السلام ته ټول نومونه ورښیي: «**وعلم آدم الاسماء کلها**» (۲۰)، خپل رسولان دخلکو لارښوونې ته رالیږي: «**هوالذی ارسل رسوله بالهدی و دین الحق**» (۲۱) په «قلم» سوګند خوري: «**ن. والقلم و ما یسطرون**» (۲۲) او انسان ته په قلم علم ورښیي: «**اقرأ و ربک الاکرم الذی علم بالقلم**» (۲۳) او بالاخره داسلام لوی پیغمبر دعلم زده کړه د هر مسلمان نارینه او ښځې فریضه ګڼي : «**طلب العلم فریضة علی کل مسلم و مسلمة**» (۲٤) او دعلم دزده کړې له پاره لیرې ملکونو ته دسفر توصیه ورته کوي.

اسلام چا ته اجازه نۀ ورکوي چې دچا کور ته بې اجازې ننوزي او یا دچا دکور په حریم تیری وکړي: «**فان لم تجدوا فیها احداً فلا تدخلوا حتی یؤذن لکم**» (۲۵).

همدا راز اسلام دبیان آزادی ته او دحقایقو معلومولو ته زیات ارزښت ورکوي او دافواهاتو په ګردونو کښې دحقایقو دلټولو توصیه کوي:
«**یا ایهاالذین آمنوا ان جائکم فاسق بنبإ فتبینوا ان تصیبوا قوماً بجهالة فتصبحوا علی ما فعلتم ندمین**» (۲٦) او دجابر حاکم په وړاندې حق ویل جهاد بولي: «**سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم، ای الجهاد افضل؟ قال: کلمة الحق عند سلطان جائر**» (۲۷) اسلام شوری او مشوری ته په خاص اهمیت قایل دی: «**وامرهم شوری بینهم**» (۲۸) «**وشاورهم فی الامر**» (۲۹)، پیغمبران یې دخلکو له منځه را ایستلي: «**کما ارسلنا فیکم رسولاً منکم یتلوا علیکم آیاتنا**» (۳۰)، «**و ما ارسلنا من رسول الابلسان**

ketabton.com - The Digital Library

قومه ليبين لهم» (۳۱) او اولی الامر دخلکو له منځه راوتلي بولي او د «منکم» په تعبير څرګندوي چې د خلکو له منځه او دخلکو دخوښې دې وي: **«اطيعو الله و اطيعوا الرسول و اولی الامر منکم»** (۳۲).

داسلام سپېڅلی دين سره او بده لار انسان ته سنيی او ددين په منلو کښې زور نه کوي: **«لا اکراه فی الدين قدتبين الرشد من الغی»** (۳۳) دمسافرت او اقامت آزادي ده: **«الم تکن ارض الله واسعة فتهاجروا فيها»** (۳٤) او هغه ټول بشري حقوق چی نن مطرح دی اسلام په خپلو احکامو کښې ځای کړي دي.

۳- دافغانستان اساسي قوانين:

په روانه پيړۍ کښې چې دبشر حقوقو جهاني بڼه غوره کړه او دخلکو مبارزو په نړۍ کښې ملي حکومتونه رامنځ ته کړل او استبدادی حکومتونه په مشروطه او جمهوري واوښتل او دټولنې دتنظيم له پاره اساسي قوانين جوړ او نافذ شول، افغانستان هم له دې بهير نه ليرې پاتې نه شو او په ۱۹۱۹ کال کښې يې دخپلواکۍ تر ترلاسه کولو وروسته په قانون ولاړ مشروطه حکومت ومونډ او دې حکومت دلومړی ځل له پاره په ۱۹۲۳ کال کښې اساسی نظامنامه جوړه او نافذه کړه او په هغې کښې يې دافغانستان داتباعو عمومي حقوق له اتمې تر ۲٤ مې مادې پورې په ګوته کړل او دخلکو دالاندې حقوق يې پکښې تعيين او تثبيت کړل:

- دافغانستان ټول اوسيدونکي بې له مذهبي او طبقاتي تبعيضه دافغانستان اتباع ګڼل کيږي.
- دهيواد ټول خلك فردي آزادي لري او دنورو پر فردي آزادیو تيری نه شي کولای.
- فردي حريت له هر ډول تيري نه خوندي دی، هيڅوك دمحکمې او قانون له حکمه پرته بندي کيدای او تر جزا لاندې راتلای نه شي، غلامي لغوه ده هيڅوك نه شي کولای بل کس دغلام او مريي په توګه وساتي.

ketabton.com - The Digital Library

- دافغانستان دولت او اتباع حق لري چې ورځپاڼې او خپرونې وکړي خو خارجي نشرات ددولت له خوا کنټرولیږي.
- دافغانستان اوسیدنکي تجارتي، صناعتي او زراعتي شرکتونو دجوړولو حق لري.
- دافغانستان ټول خلك په فردي او ډله ایزه توګه ددولت ټولو مقاماتو ته دخپل حق دغوښتلو له پاره مراجعه کولای شي.
- دافغانستان ټول خلك دوړیا زده کړې حق لري، سنوونځي ددولت له خوا اداره کیږي، غیر مسلم اقلیتونه په خپلو دیني زده کړو کښې آزاد او لومړنی زده کړې اجباري دي.
- دافغانستان ټول اوسیدونکي ددولتي قوانینو او شریعت په وړاندې مساوي حقوق لري.
- دافغانستان ټول اتباع دخپل استعداد او ددولت له اړتیا سره سم په ملکي ادارو کښې دکار کولو حق لري.
- په افغانستان کښې دټولو خلکو نغدي او جنسي شتمنی خوندي دي، دولت په زور دچا ملکیت نه شي غصبولی.
- دافغانستان دټولو اوسیدونکو استوګنځي داحترام وړ دي، هیڅ دولتي او غیر دولتي افراد دقانون تر حکم پرته دچا کورته بې اجازې نه شي ورننوتلای.

- په عدلي محکمو کښې ټولې پیسې او دعواګانی دشریعت او قوانینو له مخې فیصله کیږي.
- دچا دمال مصادره کول او پر هغه اجباري کار کول بیخي منع دي.
- دهر ډول شکنجو ورکول منع دي (۳۵).

د ۱۹۳۰ کال اساسي قانون هم دالفاظو او کله هم دمفاهیمو په تغییر دافغانستان خلکو ته پورتني حقوق ومنل (۳۶).

دهیواد د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون پورتني حقوق یو ځل بیا تثبیت کړل او یو څه زیاتونې او څرګندونې یې پکښې وکړې، جرم یې شخصي کار وبالۀ او نور چاته سرایت نه کوي. دانسان تعذیب یې حتی دحقایقو دکشف په لاره کښې هم رواو نه بالۀ او په زور اخیستل شوی اقرار یې بې اعتباره ګڼلې، په محکمه کښې دمدافع وکیل درلودل دمتهم دیو حق په توګه ومنل شول، پورتنیو دآزادۍ دمحدودیت سبب نه ګرځي، په هیواد

ketabton.com - The Digital Library

کښې دننه او له هیواد نه بهر د افغانانو تبعید بند شو، افغانان خارجي دولت ته په ټورن کیدو نه سپارل کیږي، دمخابراتو محرمیت تضمین شو، دبیان آزادي ومنل شوه البته راډیو او تلویزیون ددولت ماکیت وګڼل شول، دقانون له مخې افغانانو ته دګډ[illegible] جوړولو اجازه ورکړه شوه، دناروغیو مخنیوی او تداوي ددولت وظیفه وګڼله شوه او کار دهر افغان فرض او حق وبلل شو. (۳۷)

٤- دبشر دحقوقو نړیواله اعلامیه:

په افغانستان کښې دبشر دحقوقو دخوندي کولو ځلورمه منبع دبشر دحقوقو نړیواله اعلامیه ده چې د ۱۹٤۸ کال ددسمبر په ۱۰ نیته دملګرو ملتو دعمومي ټولنې له خوا تصویب او ومنله شوه او افغانستان دملګرو ملتو دیوه وفادار غړي په توګه همهغه دتصویب په ورځ هغه ومنله او په هیواد کښې یې متنونه دهیواد په رسمی ژبو خپارۀ شول.

دبشر دحقوقو اعلامیه چې دنړۍ دبیلابیلو هیوادونو دعنعنو، عقایدو، ادیانو او تعاملاتو په نظر کښې نیولو سره جوړه شوې وه، د افغانانو له پاره هم مأنوسه وه ځکه دوی تردې وړاندې دخپلې عنعنې، اسلامي احکامو او اساسي قوانینو له مخې دا حقوق تر ډیره حده پیژندل او ورته آشنا وو.

دې اعلامیې په خپلو دیرش ګونو مادو کښې دبشر د سیاسي، اجتماعي او اقتصادي حقوقو بیلا بیل اړخونه وڅیړل، تعیین یې کړل او غړیو هیوادونو یې له منلو سره دهغو دتطبیق مکلفیت ومونډ.

دې اعلامیې له لومړۍ تر ځلورمې مادې دبشر ټول افراد آزاد او دحیثیت او حقوقو له پلوه برابر وګڼل، هر راز تبعیض یې رد کړ، هر څوک یې دژوند، امنیت او آزادۍ مستحق وبلل او غلامي یې لغوه وګڼله.

له پنځمې تر یوو لسمې مادې پورې یې هر ډول شکنجه او مجازات رد کړل، دهر چا حقوقي شخصیت یې تثبیت کړ، ټول یې دقانون په وړاندې

ketabton.com - The Digital Library

برابر وبلل، دانسان پر حقوقو دبلوسې پۀ صورت کښې نوموړي ته آزادو محکمو ته دمراجعې حق ورکړ شو، په خپل سر توقیف او تبعید رد شو او تور جرم ونۀ ګڼل شو.

له دوولسمې تر شپاړسمې مادې پورې دکور او لیکونو محرمیت، دهیواد پۀ هره برخه کې دآزاد ژوند کولو یا دهیواد پریښودلو او یا پۀ بل هیواد کښې د پناه اخیستلو حق، دتابعیت دټاکلو او دوادۀ کولو حق، تثبیتیږي.

اعلامیه له ۱۷ تر ۲۱ مادې پورې دفردي او اجتماعي ملکیت حق، دفکر، وجدان او مذهب دآزادۍ حق، دعقیدې، بیان او سوله ایزو ډلو دجوړولو حق، او دهیواد پۀ اداره کښې دمستقیمې او غیر مستقیمې برخې اخیستلو حق وټاکل.

له ۲۲ تر ۲۵ مادې پورې دټولنې هر غړي ته داقتصادي، اجتماعي او فرهنګي حقوقو تر لاسه کول ټاکل شوي او پۀ ګوته شوې چې دټولنې هر غړی دکار، استراحت او تفریح او دځان او کورنۍ دروغتیا او رفاه حق لري.

پۀ ۲۶ او ۲۷ مادو کښې دښوونې او روزنې او دخپل هیواد پۀ فرهنګي او هنری چارو کښې دګډون حق راغلی دی.

پۀ ۲۸ او ۲۹ مادو کښې هر چا ته حق ورکړل شوی داسې نظام وغواړي چې دا آزادي خوندي او دداسې ټولنې پۀ وړاندې مسؤولیت لري چې دا حقوق او وجایب عملي کړای شي.

داعلامیې وروستنی یا دیرشمه ماده څرګندوي چې ددې اعلامیې هیڅ یوه ماده هم باید داسې تفسیر نۀ شي چې کوم دولت، یا ډلې او یا فرد ته حق ورکړي چې دهغې له مخې پۀ اعلامیه کښې یادې شوې آزادۍ یا له منځه یوسي او یایې دله منځه وړلو هڅه وکړي (۳۸).

پۀ دې ترتیب مور پۀ خپل هیواد افغانستان کښې دبشر دحقوقو دتعیین، تثبیت، تأمین او تضمین له پاره بیلا بیل لاسوندونه درلودل چې کۀ څۀ هم دټولنې دپسماندګی، دحکومتونو دغیر ملي توب او دبهرنیو عواملو له امله لکه څنګه چې لازمه وه او لکه څنګه چې پورتنیوخلورګونو منابعو ټاکلې وه پۀ افغانستان کښې دبشر حقوق ټول نۀ وو تضمین اوتطبیق شوي خو بیا هم تر ډیره حده بنیادي حقوق منل شوي او تطبیق شوي وو او ددې زمینه وه چې یو افغان لږ تر لږه خپل دا حقوق وغواړي.

ketabton.com - The Digital Library

له بده مرغه په ډروستيو دوو لسيزو کښې دبشر دا ټول ټاکل شوي حقوق په يوځ نځ يوځ ډول تر پښو لاندې شول او دا ټول افغاني، اسلامي او انساني موازين تر تيري لاندې راغلل چې بايد بيرته احياء او له ټولو ممکنو لارو نه تأمين او تضمين شي.

اوس چې دافغانانو ټول حقوق په ملي او نړيواله سطحه تر پښو لاندې شوي نو داوسنيو شرايطو، حالاتو او امکاناتو په رڼا او ديادو شوو بشري منابعو په نظر کښې نيولو سره دافغانانو له پاره بايد دحقوقو يونوی غوښتنليك جوړ کړو، داسې غوښتنليك چې ددوی حقوق پکښې ګام په ګام وغوښتل شي، له اهم نه دمهم په لور ګامونه واخلو، له بنيادي حقوقو نه مدني او له ضروري حقوقو نه لوکسو حقوقو ته ورسيږو، زهٔ بسم الله کوم او د افغانانو له پاره «دافغانستان دبشري حقوقو غوښتنليك» جوړوم او ستاسو دې لويې غونډې ته يې وړاندې کوم.

ketabton.com - The Digital Library

د افغانستان د بشر د حقوقو غوښتنليك

سريزه :

په تيرو دوولسيزو كښې افغانستان دخلكو هغه ټول بشري حقوق چې دملي عنعنې، اسلامي احكامو، اساسي قوانينو اودبشر دحقوقو دنړيوالې اعلاميې له مخې يې درلودل له بهر نه دتپل شويو كودتايي حكومتونو او وسله والو جگړو له امله تر پښو لاندې شول، دحقوقو ټول منابع په وحشيانه ډول له نظره وغورځول شول او دې تيريو ورځو په ورځ تر نن پورې تكاملي پراوونه ووهل.

په افغانستان كښې دبشر پر حقوقو باندې دتيري په پروسه كښې كورنيو او باندنيو لاسونو په گډه كار كړى او ددې ملت دبدبخت كولو له پاره په نړيواله سطحه دسيسې او توطيې جوړې شوې او روانې دي.

دافغانانو دبشري حقوقو پر ضد په شويو او روانو جناياتو كښې دنړۍ ابرځواكونه، يو شمير گاونډي او يو شمير نور مغرض هيوادونه او ورسره يو شمير تطميع شوې اووسله والې شوې داخلي ډلې شامل دي، دوى په گډه په يوه پلمه او بله پلمه په افغانستان كښې دبشري حقوقو پر ضد فعاليتونه كړي او دافغانستان قانوني نظم اوامن يې گډو ډكړي اوحتى زمورږله خلكو نه يې دژوند حق چې دټولو حقوقو ابتداء ده هم سلب كړى دى.

مورږ دبشر دحقوقو دتثبيت، تعيين، تأمين او تضمين دټولو يادو شوو منابعو په نظر كښې نيولو سره له لويو هيوادونو، دافغانستان په مسأله كښې سټكيلو هيوادونو، گاونډيو هيوادونو، كورنيو وسله والو ډلو، داسلامي هيوادو سازمان او ملگرو ملتونو ته ددې غوښتنليك په وړاندې كولو سره غواړو چې زمورږ دحقوقو په احياء كښې عملي گام واخلي او تردې زيات دافغانستان خلك له خپلو بشري حقوقو نه محروم نه كړي.

ketabton.com - The Digital Library

لومړی غوښتنه) دژوند حق:

له افغانانو نه دژوندحق په٘ داسي ډول اخيستل شوی چې دګډيږي له ماشوم نه نيولې تر نوي کلن او سل کلن بوډا پورې قصداً عمداً او بې له جرم او محاکمې وژل کيږي، ددې وژنو ساحه له هيوادنه بهر دمهاجرينو په٘ ليکو کښې هم روانه ده نو مونږ تر هر څه٘ ورانديِ غواړو چې **«افغانانو ته دې دژوند کولو حق ورکړل شي».**

دوهمه غوښتنه) دمهاجرت او هيواد ته دستنيدو حق:

۱- ټول انساني منابع حکم کوي چې هيڅوک حق نه٘ لري چې ځوک له خپل هيواد نه په٘ زور وباسي خو زمونږ په٘ مليونونو کسان له خپل هيواد نه په٘ زور ايستل شوي او سره له دې چې دوی هر آن هيله لري چې بيرته خپل هيودا ته ستانه٘ شي امابهرنيې مداخله کوونکي او کورني وسله وال مزدوران يې دوی ته دهيواد دعودت حق نه٘ ورکوي او زمينه نه٘ ورته برابروي **مونږ غواړو چې: هيواد ته د بيرته ستنيدو حق بيرته افغانانو ته ورکړل شي.**

۲- کوم افغانان چې په٘ پاکستان، ايران او نورو هيوادونو کښې دمهاجرت ژوند تيروي دمهاجرت له حقوقو نه محروم دي، بشري مرستې پرې بندې شوې، دټولو بشري حقوقو خلاف ځوروول کيږي، بنديانيږي او له ځينې هيوادونو نه په٘ زور ايستل کيږي، **دافغانو غوښتنه داده چې دمهاجرت حقوق يې ومنل شي.**

دريمه غوښتنه) دامنيت حق:

دامنيت حق دبشر يومسلم حق دی خو زمونږ په٘ هيواد کښې امنيت له يوې خوا دپخواني شوروي دقواؤ، دکمونستي حکومت او مجاهدينو له

ketabton.com - The Digital Library

خواخبئ کړای شوي مينونه تهديدوي او له بلې خوا بې سره او پۀ خپل سر وسله والې ډلې دهيواد پۀ ګوټ-ګوټ کښې موجودې دي او دامنيت پر حق تيری کوي **نو مور د ډاډمن امنيت حق غواړو!** او دامنيت دټينګتا بۀ له پاره هيله کوو چې:

۱- پۀ افغانستان کښې دې دوطن دحفاظت له پاره **ملي اردو** جوړه شي.

۲- دهيواد دامنيت له پاره دې **دپوليسو ملي تشکل** رامنځ ته شي.

څلورمه غوښتنه) دواحد حکومت درلودلو حق:

پۀ بشري حقوقو کښې دهر هيواد له پاره داولس دخوښې دحکومت حق ورکړل شوی خو زمور پۀ هيواد کښې دقوماندانانو او تنظيمونوپۀ شمير حکومتونه موجود دي او دهيواد بيلا بيلې اولسوالی دبيلا بيلو قوماندانانو او بيا دهيواد بيلا بيل ولايات دبيلا بيلو تنظيمونو پۀ لاس کښې دي چې داداره کيدلو پر ځای دتشنجونو دراولاړولو هڅې کوي **مور پۀ لومړی قدم کښې پۀ هيواد کښې يو واحد حکومت غواړو.**

پنځمه غوښتنه) پۀ خپل هيواد کښې د آزاد ګرځيدلو حق:

پۀ خپل هيواد کښې دآزاد ګرځيدلو حق دټولو حقوقي منابعو ګډه غوښتنه ده خو زمور خلك پۀ ټول هيواد کښې ځۀ چې دهيواد پۀ يوه برخه کښې هم آزاد نۀ شي ګرځيدلی او وسله والې ډلې يې دپښتون، تاجك، اوزبك، هزاره، سني، شيعه يا هم دکابلي، هراتي، بامياني، کندهاري او نورو سيمو داوسيدونکو پۀ نامه نيسي، پيسې تری اخلي، وهي يې، مثله کوي يې او ووژني يې. **مور افغانان پۀ خپل هيواد کښې د آزاد ګرځيدلو حق غواړو!**

ketabton.com - The Digital Library

شپږمه غوښتنه) د تبعیض ورکولو حق:

دافغانستان بیلا بیل قومونه له زرګونو کلونو راهیسې دیوځ واحد ملت په توګه په خپل هیواد کښې اوسیدلي، دوروری ژوند یې سره کړی، دخارجي دښمن په وړاندې په ګډه جنګیدلي او خپل هیواد یې په ګډه ساتلی دی. خو اوس بهرنیو لاسونو ځینې ډلې د تبعیض دپیدا کولو له پاره په افغانستان کښې مؤظفې کړي او راز-راز قومي، ژبني، مذهبي او سیمه ایز بیلتونونه یې راپیدا کړي، **مونږ په خپل هیواد کښې دهر راز تبعیض ورکېدل غواړو** او خپل ملت ته چې یو واحد ملت دی او د تاریخ په اوږدو کښې یې تشکل کړی دی دملي وحدت خط السیر غواړو.

اوومه غوښتنه) د حیثیت خوندي کیدلو حق:

دافغانستان دنارینه ؤ او ښځو حیثیت دوسله والو او زورورو کسانو له خوا تر تهدید لاندې دی هیڅ یې هیڅه یې عزته کیږي او خصوصاً د ښځو حیثیت تر دوامدار تیري لاندې دی، دوی له لارو او کورونو نه په زور بیولې کیږي، وسله والې ډلې دخپلو شیطانی غوښتنو د تسکین په خاطر جنسي تیری پرې کوي چې حتی کله-کله یې بیا وژني هم، په زور او اکراه یې نکاح کوي او اتیا-اویا کلن سپین ږیری ځوانې پیغلې دوسلو او پیسو په زور ځان ته کښینوی. **افغانان او خصوصاً افغاني میرمنې دخپل حیثیت د ساتلو غوښتنه کوي.**

اتمه غوښتنه) د یرغمل نیولو بندول:

وسله والې ډلې یې دفاع او یې ګناه ځوانان او کسان یرغمل کوي او بیا دخپلې خوښې پیسې پرې غواړي. کۀ کورنۍ یې پیسې ورنۀ کړای شي او یا یې ونۀ مومي نو بیا یې رحمانه وژل کیږي **مونږ غواړو چې دا یرغمل نیول دې بند شي.**

ketabton.com - The Digital Library

نهمه غوښتنه) دکورونو محرميت:

دهيواد په بيلا بيلو برخو کښې وسله والې ډلې ځان ته حق ورکوي چې دهرچا کور ته ورشي ه‌کور دخوښې سامان يې له ځانه سره يوسي او دمقاومت په صورت کښې دکور اوسيدونکي ژوبل او حتی مړه کړي، **مور به لومړيو ګامونو کښې دکور محرميت او دحرمت خوندي کيدل غواړو!**

لسمه غوښتنه) دشخصي ملکيت خوندی کيدل:

په افغانستان کښې دخلکو کورونه، دکرنې ځمکې او نور منقول او غير منقول جايدادونه دوسلې په زور غصبيږي يا دوسلې په زور قبالې او اسناد تر لاسه کيږي، شخصي ملکيت دټولو قوانينو له مخې خوندی دی، **نو مور د افغانانو دشخصي ملکيتونو خوندي کيدل غواړو!**

يوولسمه غوښتنه) دملي ملکيت خوندي کيدل:

روان حالت په افغانستان کښې ټول منقول او غير منقول ملي ملکيتونه تهديد کړي،دهيواد زيات موزيمونه،کتابخانې، آرشيفونه، دولتي ځمکې، ودانی، شرکتونه، موټر او نورې شتمنی يا لوټ شوي او يا دلوټيدو او شخصي ملکيت ګرځيدو په حال کښې دی، **مور د افغانستان دملي ملکيتونو او شتمنيو خوندي کيدل غواړو!**

دوولسمه غوښتنه) دتاريخي آثارو خوندي کيدل:

دافغانستان په تاريخی ځايونو کښې نړيوال قاچاقبران دکورنيو غلو په مرسته کيندنې کوي او زمور تاريخي آثار په غلا بهرنيو هيوادو ته وړل کيږی.

ketabton.com - The Digital Library

۱- ددې غیر قانوني او غیر فني کیندنو مخه دې ونیوله شي.
۲- ورځ شوي آثار دې یونسکو او نورې نړیوالې فرهنګي مؤسسې رانیسي او په افغانستان کښې دقانوني حکومت دراتلو تر وخته یې دې له ځان سره امانت وساتي.

دیارلسمه غونډتنه) دچاپیریال دککړیدلو مخنیوی:

دراز زراز زهري او تباه کوونکو وسلو داستعمال له امله افغانستان چاپیریال په وروستۍ پیمانه ککړ شوی. اغزنه ار فضارنه زهرناک شوی او ماحول خراب شوی دی، **افغانان غواړي چې جګړې بندې او ورسره چاپیریال داوسیدو وړ وګرځي.**

څوارلسمه غونډتنه) دکورونو پهٔ صحي شرایطو جوړیدل:

جګړو پهٔ افغانستان کښې تر نیمایي زیاتې ودانۍ ورانې کړې او بیا ودانیدل یې دصحي ارتیاؤ دمراعاتیدو غونډتنه کوي، **افغانان غواړي چې دکلیو او کورونو پهٔ ودانولو کښې دصحي او ښود براهرولو او دکانالیزاسیون او نورو شرایطو پهٔ نظر کښې نیولو سره داستوګنځیو دبیا رغونې پهٔ لاره کښې مرسته وشي.**

پنځلسمه غونډتنه) روغتیایي خدمتونه رامنځ ته کیدل:

دجګړو ناوړه شرایطو دافغانستان زیات خلك دراز راز روحي او جسمي ناروغیو سره مخامخ کړي او دا ناروغي پهٔ هغو موسمي او سیمه ایزو ناروغیو ورزیاتې شوې چې له پخوا نه پهٔ هیواد کښې موجودې وې، **مور غواړو چې پهٔ ټول افغانستان کښې لږ تر لږه لومړني روغتیایي خدمات**

ketabton.com - The Digital Library

چمتو کړای شی.

شپاړسمه غونډتنه) سنوونه او روزنه برابرول:

پهٔ هیواد کښې ددوو لسیزو پر له پسې جګړو دسنوونې او روزنې طبیعي لړی شلولې او هم کهٔ چیرې دسنوونې او روزنی زمینه وه هغه دخارجي هیوادونو او له هغوی سره دتړلو ډلو پهٔ خوښه وه چې زموږ ملي غونډتنې پکښې پهٔ نظر کښې نهٔ وې، **موږ پهٔ خپل هیواد کښې دملي سنوونې او روزنې دلړی بیا پیلیدل غواړو.**

اوولسمه غونډتنه) دنجونو له پاره دزده کړو تهیه کول:

٤٧

پهٔ افغانی ټولنه کښې روانو کړکیچونو دنجونو زده کړو ته درنه ضربه ورکړې، سره له دې چې اسلام دعلم زده کړه پهٔ نارینه او ښځه فرض بولي خو یا دامنیتي ملحوظاتو او یا نورو موانعو له امله دنجونو زده کړې تر ژوو تحدید او تهدید لاندې دي، **افغاني نجونو ته دې دبیلې او پراخې زده-کړې لاره هواره شي.**

اتلسمه غونډتنه) دقوانینو جوړیدل :

افغاني ټولنه چې دجګړو او ناعاقبت اندیشه واکدارانو له امله دځنګل دقانون غیږې ته لویدلې، دژوند دبیلا بیلو برخو دبیا تنظیم له پاره قانوني بهیر ته اړه لري **نو موږ غواړو چې دضرورتونو او اولیتونو پهٔ بنا داساسي قانون پهٔ شمول دنورو فرعي قوانینو پهٔ جوړولو لاس پورې شي او ورو-ورو زموږ ټولنه یو ځل بیا دقانون غیږې ته ولویږي.**

ketabton.com - The Digital Library

نولسمه غوښتنه) خلکوته دهويت او نمايندګي حق:

دګام په ګام حقوقو تر لاسه کولو پۀ لړ کښې افغانان هم دنورو انسانانو غوندې حق لري چې دخپل اجتماعي او سياسي برخليك پۀ ټاکلو کښې برخه ولري، پۀ دې برخه کښې ډير زيات موانع شته، دبيلا بيلو اقوامو، مذاهبو او سيمو دنفوسو دتناسب احصائيې پۀ لاس کښې نشته او خارجي هيوادونه مور ته دفرضي او غرضي احصائيو پۀ جوړولو بوخت دي، **مور غواړو چې پۀ خپل وار دملګرو ملتو تر څارنه لاندې پۀ ټول هيواد کښې سرشمير نه وشي او دقيقې احصائيې تر لاسه شي.** بيا دهمدې احصائيو له مخې دنژادي او مذهبي تناسبونو پۀ نظر کښې نيولو سره دهيواد نوې اداري ويش وشي او خلك دې ته چمتو شي چې پۀ راتلونکې کښې دخپلې خوښې نماينده ولري.

شلمه غوښتنه) دبيان دآزادي حق:

پۀ اوس وخت کښې پۀ هيواد کښې دننه او له هيواد نه بهر افغانان دبيان دآزادي حق نۀ لري او کۀ چا خپل فکر څرګند کړی **پۀ هيواد کښې** دننه او بهر بنديان شوي، وژل شوي او يا پۀ مرګ تهديديږي، **زمور پۀ ګام پۀ ګام غوښتنو کښې دبيان دآزادي حق بايد تضمين شي.**

يوويشتمه غوښتنه) دآزاد تجارت حق:

پۀ اوس وخت کښې دافغانانو تجارتي فعاليتونه تر سختو تهديدونو او دلوړو تر خوښې لاندې دي، غير قانوني ولې ملا ماتوونکې پيسې دمحصول پۀ نامۀ تري اخلي او يايې **ټول مال لوټوي** ، بشري قوانينو دا حق هر انسان ته تثبيت کړي **او افغانان هم دآزاد تجارت حق غواړي.**

ketabton.com - The Digital Library

دوه ویشتمه غوښتنه) د آزادو فرهنګي فعالیتونو حق:

ناوړه حالاتو دافغاناتو فرهنګي او هنري فعالیتونه مختنق کړي او په دې هکله افغانانو ته دخپلو استعدادونو دتبارز زمینه پنده ده زمور دګام په ګام حقونو په لړ کښې د آزادو فرهنګي او هنري فعالیتونو غوښتنه هم شامله ده.

دروېشتمه غوښتنه) دشکنجو بندولو حق:

وسله والې او دهیواد په بیلا بیلو برخو حاکمې ډلې دنیول شویو کسانو په شکنجه کولو، مثله کولو او وژلو هم نه بندیږي او خینې روانې ناروغان له دې کارونو نه خوند اخلي. شکنجه باید بنده شي او څوک بې له حقه ونه خوول شي.

٤٩

خلیرویشتمه غوښتنه) ددفاع حق:

له افغانانو نه دنیول کیدو په وخت کښې ددفاع حق اخیستل شوی مور په خپل وار ددې حق داحیاء غوښتنه کوو او غواړو چې افغانانو ته هم لکه نورو انسانانو غوندې په محکمو کښې ددفاع او سپیناوي حق ورکړل شي. او همدا رازافغانانو ته حق ورکړل شي چې:

۱- دخپل هیواد ملي خاینان او جنایتکاران محاکمې ته راکاږي.

۲- پر خپل هیواد دتیري کوونکو خارجي ځواکونونه دجنګ تاوان وغواړي.

پنځه ویشتمه غوښتنه) دګوندونو جوړولو حق:

په افغانستان کښې تر اوسه ګوندونه په قانوني توګه نه دي تشکیل شوي له همدې امله په هیواد کښې تش په نامه رامنځ ته شوي ګوندونه په

ketabton.com - The Digital Library

خپل خپل وار له پردو سره ترلي راغلي او يا دپردو غيرې ته لويدلي او دافغانستان ټولې روانې بدبختۍ همدې له نورو سره ترلو او دنورو پۀ ګټو ولاړو حزبونو رامنځ ته کړې **نو افغانان بايد قانوني حق ولري چې دخپلو ملي غوښتنو پۀ رڼا کښې ګوندونه جوړ کړي او پۀ افغانستان کښې دګوندونو قانوني فعاليت پيل شي.**

شپږويشتمه غوښتنه) دشورئ درلودلو حق:

له افغانانو نه ددوی پۀ سرنوشت ټاکلو کښې دمايندګانو درلودلو حق اخيستل شوی دی ته هم بايد دنورو انسانانو غوندې حق ورکړل شي چې دزمينې له مساعديدلو سره خپل مايندګان وټاکي او دهيواد مرکزي شورئ ته يې وليږي.

اووه ويشتمه غوښتنه) دانتخابي حکومت حق:

ديو شمير نورو ګڼو حقوقو تر تضمين وروسته **بايد افغانانو ته حق ورکړل شي چې له خپلو مايندګانو نه جوړ انتخابي حکومت رامنځ ته کړي** او پۀ دې توګه دغير ملي حکومتونو او له بهر نه دصادرو شويو حکومتونو مخه ونيوله شي.

اتۀ ويشتمه غوښتنه) دکار حق:

پۀ اوس وخت کښې پۀ وسله والو ډلو کښې دځوانانو دځای پر ځای کيدلو يو علت هم بيکاري ده، **افغانانو ته بايد له استعداد سره سم دکار کولو زمينه مساعده شي** او دا پياوړې مټې چې دکار سرشار استعداد لري پۀ بيلا بيلو ساحو کښې دهيواد دبيا ودانۍ له پاره پۀ کار ولوږي.
همدا راز دې دهيواد يتيمانو او معلولينو ته دکارونو پۀ برخه کښې اولويت او ددوی له توان سره سم کارونه تهيه کړای شي.

ketabton.com - The Digital Library

نه ویشتمه غوښتنه) د تښتیدلو مغزونو راستنیدل:

روانو ورانوونکو حالاتو افغانستان بې شمیره مغزونه دنړۍ دهیوادونو سرګردان کړل او یا هم پۀ تیرو دوو لسیزو کښې ځینې افغاني ځوانان پۀ نورو هیوادونو کښې وروزل شول، **دنړۍ ټول هیوادونه باید داسې تشویقي زمینې مساعدې کړي چې دا علمي او ذکار مغزونه بیرته هیواد ته راستانۀ او پۀ کار بوخت شي.**

دیرشمه غوښتنه) دلاسوهنو بندول:

افغانستان پۀ چارو کښې ډیر بهرني او ورسره تړلي کورنۍ لاسونه دعجیبو او غریبو منطقو نو پۀ درلولو سره افغانانو دژوند پۀ ټولو یادو شویو برخو کښې پۀ مداخله او لاسوهنه بوخت دي، **افغانان غواړي چې هیڅ فرد ، ډله یا دولت باید ددې حق ونۀ لري چې افغانستان دملي ګټو، ملي خپلواکۍ او ملي وحدت خلاف لاسوهنې وکړي، لمسونې وکړي اولاس غزونې وکړي!**

ketabton.com - The Digital Library

پایلیکونه:

(۱) کهزاد، اروابناد استاد احمد علي: «افغانستان در پرتو تاریخ» ۲۲ مخ، دکتاب چاپولو مؤسسه، ۱۳٤٦، کابل.
(۲) دویدي سرودونو دپیژندګلوی له پاره وګورئ: «ګزیدهء ریګویدا» دډاکتر محمد رضا جلالي نائیني تحقیق او ژباړه، دنګره چاپ، ۱۳٦۷، تهران.
(۳) ددیس کلیمه دپښتو پهٔ پردیس (مسافر) کښې اوس هم ژوندی ده چې د «پردي دیس» نه جوړه ده.
(٤) دتفصیل له پاره وګورئ کهزاد : «تاریخ افغانستان» لومړی ټوک ۱۱۵-۱۱۹ مخونه، انجمن تاریخ، ۱۳۲۰ کال، کابل.
(۵) همدا پورتنی اثر، ۱۲۵-۱۲٦ مخونه.
(٦) دهمدې اثر ۱۲٦-۱۳۰ مخونه.
(۷) دهمدې کتاب ۱۱۹ مخ.
(۸) ریشیان دآریایي ټولنې شاعران وو چې خلکو ته بهٔ یې پندونه او لارښوونې دشعر پهٔ بڼه رسولې او بیا بهٔ خوله پهٔ خوله لیږدیدلې.
(۹) دزردشت او دهغه دتعلیماتو پهٔ باب وګورئ: «اوستا» دهاشم رضي لیك او تحقیق، دفروهر چاپ، ۱۳٦۳، تهران، «ګاتها» دموبد فیروز آذر ګشسپ ترجمه او تفسیر دوه ټوکه، ۱۳۵۱، تهران.
(۱۰) دتفصیل له پاره وګورئ: رفیع، حبیب الله: «جرګې او دافغاني جرګو اجتماعي او رواني ارزښتونه» دآزاد افغانستان دلیکوالو ټولنه، ۱۳۷٤ کال، پیښور.
(۱۱) ددې کودونو دتفصیل له پاره وګورئ: پژواك، استاد عبدالرحمن «تعاملات حقوقیه و جزائیهء ملی» سالنامهء کابل، ۱۳۱۸ کال، ۳٤۱-۳۵۸ مخونه، پښتو ټولنه، کابل.
(۱۲) قرآن کریم، دالمائده سورة، ۳۲ آیة.

ketabton.com - The Digital Library

(۱۳) قرآنکریم، دالنساء سورة، ۹۳ آیة.
(۱٤) قرآن کریم، دالنساء سورة، لومړی آیة.
(۱۵) قرآن کریم، دالحجرات سورة، ۱۳ آیة.
(۱٦) قرآن کریم، دالروم سورة، ۲۲ آیة.
(۱۷) قرآن کریم، دالاسراء سورة، ۲۲ آیة.
(۱۸)قرآن کریم، دالزمر سورة، ٦ آیة.
(۱۹) قرآن کریم، دالبقرة سورة، ۱۸۷ آیة.
(۲۰) قرآن کریم، دالبقرة سورة، ۳۱ آیة.
(۲۱) قرآن کریم، دالتوبة سورة، ۳۳ آیة.
(۲۲) قرآن کریم، دالقلم سورة، لومری آیة.
(۲۳) قرآن کریم، دالعلق سورة، ٤ آیت.
(۲٤) دابن ماجه په روایت حدیث.
(۲۵) قرآن کریم، دالنور سورة، ۲۸ آیة.
(۲٦) قرآن کریم، دالحجرات سورة، ٦ آیة.
(۲۷) پۀ نسایی او ترمذی کښې راغلی حدیث.
(۲۸) قرآن کریم، دالشوری سورة، ۳۸ آیة.
(۲۹) قرآن کریم، دآل عمران سورة، ۱۵۹ آیة.

ketabton.com - The Digital Library

(۳۰) قرآن کریم، دالبقرة سورة، ۱۵۱ آیة.
(۳۱) قرآ کریم، دابراهیم سورة، ٤ آیة.
(۳۲) قرآن کریم، دالنساء سورة، ۵۹ آیة.
(۳۳) قرآن کریم، دالبقرة سورة، ۲۵٦ آیة.
(۳٤) قرآن کریم، دالنساء سورة، ۹۷ آیة.
(۳۵) اساسي نظامنامه دافغانستان، ۵-۹ مخونه، لومړی چاپ، ۱۳۰۲ کال، کابل.
(۳٦) اصول اساسی دولت علیهء افغانستان، د ۱۳۱۰ کال دلړم د۹ نیټې تصویب، له ۹ تر ۲٦ مادی پورې.
(۳۷) دافغانستان اساسي قانون، له ۲۵ تر ٤۰ مادی پورې،۱۳٦۳ کال، کابل.
(۳۸) دبشر دحقوقو داعلامیې دبشپړ متن له پاره وګورئ: تعاون، ۳ کال، ٤ ګڼه، ۳۸-٤۲ مخونه، ۱۳۷٤، عقرب، پیښور.

ketabton.com - The Digital Library

B
4.50
RAF
6361

د امان کتاب لړۍ خپرونه څخه
پښتو

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English